د لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتون

د ژورنالیزم پوهنځی

# خبرلیکنه

استاد : پوهنمل سید عباس سادات

بسم الله الرحمن الرحيم

# ژورنالیزم (خبریالي)

اوسنی ژورنالیزم یا خبریالي د پخوا په څیر یوازې د خبرولو او اطلاع ورکولو تر دایرې محدوده نه ده بلکې د بشري ټولنې له غوښتنو او اړتیاوو سره سم د بیلابیلو ژورنالستیکي وسایلو له پنځیدا سره مختلف مطبوعاتي ژانرونه هم رامنځ ته شول.

د بیلابیلو ژورنالستیکي ژانرونو د منځته راتګ چاره تصادفي نه ده بلکې د ژورنالیزم د اهدافو پراخیدل دا اړتیا رامنځ ته کړه چې راز راز لیکنې په ځانګړو چوکاټونو کې د ژورنالستیکي ژانرونو په نامه وپیژندل شي مخکې له دې چې ژانر وپیژنو ښه به دا وي چې د ژورنالیزم او ژورنالیست له کلمو سره اشنایي پیدا او هر اړخیز تعریفونه یې وړاندې کړو .

## ← ژورنالیزم یاني څه؟

تر اوسه پورې د ژورنالیزم لپاره یو داسې تعریف نه دی غوره شوی چې ټولو ته یو شان د منلو وړ وي، خو د لغوي، اصطلاحي او کاري ارزښتونو له مخې د یو شمیر عالمانو لخوا په بیلابیل ډولونه تعریف شوی دی چې دلته یو اځې په څو تعریفونو بسنه کوو.

- د ژورنالیزم ویي (لغت) په اړه یو شمیر بیلابیل نظرونه شته دي لکه ځینې وایي چې دغه لغت له لاتیني ژبې څخه اخیستل شوی، خو یو شمیر نور بیا په دې آند دي چې دغه لغت اصلاً فرانسوي ځکه دی، چې فرانسوي ژبه په الفبایي سیستم کې د (ژ) توری لري نو ځکه خو ژورنال یا ژورنالیزم د فرانسوي ژبې محصول دی، چې د انګلیسي ژبې د (جرنالیزم یا جرنالیست هم مانیز لغت ګڼل کیږي چې انګلیسي ژبه په خپله الفباء کې د (ژ) توری نه لري، بلکې د (J) توری پکې شته چې ژورنالیزم په جرنالیزم او ژرونالیست په جرنلستتلفظ کیږي، په هر حال که دغه لغت لاتیني وي او که فرانسوي خو دواړه ژبې سره پخپلو کې ژبنی تړاو او الفبایي خپلوي لري.

نو ویلای شو چې ژورنالیزم د فرانسوي ژبې اصل دی او جرنلیزم د انګلیسي ژبې چې نو موړي لغت ته په نورو ژبو کې هم معادل او مانیز لغتونه شته دي، نو د (Journal) ژورنال کلیمې مانا پخوا ((د ورځني یادښت یا ورځني حساب او روزنامچې)) په مانا راغلې چې بیا د ورځپاڼو په

منځته راتلو سره دغه مفهوم یو ازې ورځپاڼې لیکنې ته ځانګړی شو؛ خو په نړۍ کې د ژورنالیزم په پرمختیا سره دغه لغت (ژورنالیزم) هم پرمختګ وکړ چې اوس د عامه ډلیزو اړیکو اطلاعاتي وسایلو ته کارول کیږي، او ((اېزم)) (Ism) د طریقې، لارې، روېش او مکتب مانا لري.

- ټول هغه خپرېدونکي فعالیتونه چې د خبرېدو او پوهیدو وړتیا ولري ژورنالیزم بلل کیږي.

یا: د عامه ارتباطي وسایلو لکه راډیو، تلویزیون، اخبار، جریدو، انټرنیټ، مجلو، رپوټونو، لیکنو... او نورو کار او فعالیت ته ژورنالیزم وایي، او کارکوونکي یې ژورنالیست بلل کیږي.

- د خبرونو جوړېدل، رسول او د ورځپاڼو او جریدو لیکل او نشرولو ته ژورنالیزم وایي.

یو برتانوي عالم د ژورنالیزم د مسلک په اړه وایي:

- ژورنالیزم یو داسې مسلک دی چې د خبرونو راټولولو، پرهغو د تبصرې کولو او بیا خلکو ته په ټاکلي وخت رسولو دنده په غاړه لري.
- ژورنالیزم یا خبریالي خلکو ته د معلوماتو د رسولو هغه بڼه ده چې ژورنالیست یې د رښتینولۍ او امانتدارۍ د اصل په پام کې نیولو سره د پیښې خبرتیا په سم ډول څرګنده کړي.

نو ژورنالیزم اوس په همدغه لرونکي مفهوم په ټولو ژبو کې منل شوی هم دی، یانې ژورنالیزم اوس په اړونده مانا په ټولو ژبو کې پیژندل کیږي، خو په ځینو ژبو کې ورته معادل لغت هم شته لکه په عربي او اردو کې چې ورته صحافت او صحافي وایي، چې د ((صحافت)) کلیمه له ((صحف)) څه اخیستل شوې چې لغوي مانا یې د کتاب او رسالو مخونه او صفحې دي، خو د صحف کلمه د صحیفو لپاره کارول شوې، چې صحیفې د پاکو او سپیڅلو پاڼو، رسالو او لیکنو په مانا دي.

په پخوا زمانو کې صحف د صحیفو په مانا او د صحیفو اصطلاح سپیڅلو پاڼو یانې لیکنو ته ځانګړې وه چې د خدای تعالی (ج) له خوا به پیغمبرانو (ع) ته رالیږل کیدې، او د سپیڅلو کتابونو یا اسماني صحیفو د قلمي نسخو تیاروونکي ((صحافي)) یا صحافیان بلل کیدل؛ خو د نړۍ په پرمختګ سره ورو ورو ادبي، علمي او فلسفیانه لیکنې د صحیفو په ډلو کې راوړل شوې، چې د ورځپاڼو په منځته راتلو سره صحافت د جریدو او ورځپاڼو لپاره استعمال شو، چې بیا د پرله پسې مطبوعاتو د تیارولو ټولې چارې هم صحافت وګڼل شوې.

- خبریالي، ژورنالیزم یا صحافت هغه رښتیني او سپیڅلی مسلک دی که په سم ډول وکارول شي نو پایلې به یې د هر چا لپاره په زړه پورې وي.

- له نويو او غير معمولي پېښو څخه خبرېدل او پر هغو خبر يا رپوټ جوړول او له عامه ارتباطي وسايلو څخه يې خپرولو ته صحافت يا ژورناليزم وايي، خو ځيني بيا ژورناليزم ته د بيلابيلو سياسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنيزو پيښو مسلک وايي، چې په اړه يې خبرونه، راپورونه، شننې او څيړنې چمتو کيږي.

## ژورناليست څوک دی؟ Who is a Journalist?

ژورناليست هغه مسلکي کس دی چې له خبري سرچينونو څخه په ګټې اخيستنې په غږيزه، ليکنۍ او انځوريزه بڼه د يو پيښې د بشپړېدا او خپرېدا دنده پر غاړه لري.

هغه څوک چې خبرونه، راپورونه، څيړنې، تبصرې او نورې ليکنې چمتو کوي او د مختلفو رسنيو له لارې يې خپروي ژورناليست، خبريال يا صحافي بلل کيږي.

## د ژورناليست ځانګړتياوې:

- ✓ له ژورناليزم سره ځانګړې مينه او علاقه ولري.
- ✓ ځاني وړتيا ياني استعداد ولري.
- ✓ تل د خبرونو د راټولولو پر مهال چټک واوسي.
- ✓ تل واقعيتونو او حقيقتونو ته پاملرونکی وي.
- ✓ د پراخې مطالعې څښتن وي.
- ✓ ساده، روان او د خلکو په ژبه ليکل وکړي.
- ✓ له خلکو او دولت سره په اړيکه کې واوسي.
- ✓ تل د معلوماتو راټولوونکی وي.
- ✓ او خلکو ته د معلوماتو رسوونکی وي.
- ✓ د پيښې ښې او ناپيلې بيانوونکی وي.
- ✓ تل رښتيا ويونکی وي او له دروا‌غو څخه ډډه کوي.

- ✓ د پېښو په اړه يو ښه کره کتونکی يا نقاد وي.
- ✓ تل د حالاتو ليدونکی او څارونکی وي.
- ✓ هوښيار او بيدار وي.
- ✓ په ټولنه کې باوري کس پېژندل شوی وي او د خلکو د اعتبار وړ وي.
- ✓ د ټولنې هنداره او منعکس کوونکی وي.
- ✓ له ټولو خلکو سره يو ډول چلند کوي.
- ✓ ډېر زړه سواند او مهربان وي.
- ✓ د کار پر مهال جدي او زړور وي او د حقيقتونو غوښتونکی وي.
- ✓ له سختو حالاتو سره د مخکيدو پر مهال د سرې سينې ښتن وي.
- ✓ له سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او فرهنگي پيښو څخه خبر وي.
- ✓ تيز ليکل وکړای شي يانې لاس يې په قلم ښورولو کې چټک واوسي.
- ✓ د بيان او څرگنداوي ځواک ولري.
- ✓ له خبري وسيلو او تړاويزو (ارتباطي) مهارتونو سره روږدی وي.
- ✓ پر ملي ژبو سربيره پر يوه نړيواله ژبه هم وپوهيږي.

### د ژورناليزم اهميت

ښايي له ځينو خلکو سره داسې فکر راپيدا شي چې گواکې ژورناليست له يوه قلم، کتابچې، مايک يا کامرې پرته نور هيڅ داسې ځواک نلري چې په هغې سره د ظلم استبداد او بې عدالتيو پر وړاندې يا د هغو کسانو پر وړاندې چې خورا ځواکمن بلل کيږي او نور خلک يې د منفي کړنو په اړه چوپه خوله وي وکاره وي، خو په حقيقت کې دژورناليست قلم او ژبه که چيرې په سمه توگه وکاره ول شي د دغو کسانو لپاره هغه تيره توره بلل کيږي چې په پايله کې يې مسوليت نه منونکي ځواکمنان دې ته اړ باسي چې خپلو منفي کړونو ته د پای ټکی کيږدي يا خلکو ته يو داسې ذهنيت ورکړي ترڅو د خپلو حق حقوقو د غوښتلو لپاره غږ پورته کړي او د چوپتيا له حالته راووځي.

ژورناليزم خلکو ته د ويښتابه روحيه ورکوي او هغه لارې چارې ورته ښائي چې د وی د فقر بې وزلۍ بې سوادي او ناخوالو له گردابونو راويستلی شي ډېر ځله داسې پيښ شوي چې ځينې وگړي

له پامه غورځول شوي وي خو يو ژورناليست د خپلو هڅو په پايله کې په دې توانيدلی چې د واکمنانو پام د دغه ډول خلکو پر وړاندې راواړه وي.

مطبوعات يا رسنۍ د يوه هيواد څلورمه قوه بلل کيږي يا په بله مانا مطبوعات د يو ملت ژبه وي که چيرې يو هيواد رسنۍ ونلري نو هغه ژبه نه لري او که يو ځوک ژبه ونلري نو طبعي خبره ده چې هغه به له هر څه محروم وي او د زوال په لور به روان وي، ډېر ځله داسې کيږي چې مسؤلين خپلې منفي کړنې هم مثتبې بولي مگر ژورناليزم هغه متوجه کوي چې هرڅه سم نه دي او هغه نمګړتياوې چې په نظام يا اداره کې وجود ولري ور په گوته کوي ډېر ځله داسې پيښيږي چې د واکمنانو غوږه مالان واکمن له هر څه بې خبره ساتي يو هيواد که چيرې د بربادۍ پر پوله هم ولاړوي نو دوی هڅه کوي چې واکمن د خوشحاله ساتلو لپاره حالت سم وښايي رسنۍ دي چې د واکمن ذهن دې ته چمتو کوي چې په هيواد کې يې څه روان دي.

يوه لنډه بيلګه:

يو عادي کس نه شي کولای خپله ستونزه د خپل ولايت له والي سره شريکه کړي ځکه چې سختو امنيتي تدابيرو او يا د والي د زياتو بختياوو پر اساس به هغه په مياشتو هم ځوک والي ته پرينږدي يو اځنی کس ژورناليست دی چې د غه شخص د خپل خبر يا راپور په وسيله له والي سره وصلوي او والي ته وايي چې خلک کومې ستونزې لري نو دلته ده چې ادعا په حقيقت بدلوی شو چې وايي ژورناليست د خلکو او دولت ترمنځ د يو پل حيثيت لري او ژورناليزم د ستونزو له منځه وړلو يو ښه ارتباطي وسيله بلل کيږي.

ژورناليزم د يوې سيمې د خلکو د حالاتو نړۍ خبروي.ژورناليزم د يوې ټولنې ژوند ته تغير ورکوي په هغه صورت کې چې د دغه مسلک ټول تقدسات په پام کې وساتل شي.

د نړۍ خلک نن د خپلو واکمنانو يا سياستوالو د خبرو پر پرتله د ژورناليزم او رسنيو خبرو ته زيات ازرښت ورکوي خو هغو رسنيو ته چې په حقايقو ولاړې خپرونې لري. نن ورځ ژورناليزم دومره فعال دی چې ولسمشران، وزيران، ډيپلوماتان او نور چارواکي د خپل هيواد او سيمې ورځنې سياست د رسنيو د معلوماتو پر بنسټ عياره وي.

په لومړي سر کې هر څوک هڅه کوي چې د يوه مسلک تر انتخاب وړاندې د هغه د ارزښت په اړه وپوهيږي، دا به د هغو کسانو لپاره په زړه پورې وي ،چې د ژونالیزم په هکله زده کړې کوي.

دا چې د ژورنالیزم په مانا وپوهیدو ، د ژورنالیزم ارزښت راته معلوم شو او خبریال مو وپیژنده اوس نو په باید په دې وپوهیږو چې ژانر څه ته وايي او په ژورنالیزم کې له کومو ژانرونو څخه استفاده کو .

## ژانر

ژانر یوه فرانسوي کلیمه ده چې له لاتیني ژبې ژینوس Genus څخه اخیستل شوې او د بڼې یا ډلې په مانا ده. په اصطلاح کې د فکر د بیلابیلو شکلونو وړاندې کولو یا د لیکلو بڼې ته وايي .

د اکثرو ډلبندیو له مخې ژورنالستیک ژانرونه له لویه سره په لاندنیو دریو ډلو ویشل کیږي:

١- خبري یا اطلاعاتي ژانرونه

٢- تحلیلي ژانرونه

٣- تبلیغي ادبي ژانرونه

د یادو ژانرونو له توضیحه وړاندې غوره ده چې د ژورنالیزم د اهدافو په اړه لنډې خبرې وشي ځکه د ژورنالیزم د اهدافو په بیانولو سره دا څرګندیږي چې کوم ژورنالستیک ژانر د کوم هدف لپاره په کاریږي.

د ډیرو ژورنالستیکي اثارو له څیړنې جوتیږي چې ژورنالیزم او ژورنالستیک فعالیتونه په ټوله کې له لاندنیو څلورو اهدافو راڅرخي:

- اطلاع ورکول یا خبرول
- تعلیم ورکول
- رهبري یا لارښوونه کول

د ژورنالیزم د یادو اهدافو په رڼا کې ویلای شو چې هر ژورنالستیک ژانر د یوه ځانګړي هدف پر محور څرخي، چې شرحه یې په لاندې ډول ده :

- **خبري یا اطلاعاتي ژانرونه:** د دې ژانر په مرسته ژورنالسټ مخاطبانو ته د پیښنو په اړه نوي او تازه معلومات د خبرونو ،رپورټونو او مرکو د مختلفو بڼو په چوکاټ کې وړاندې کوي.

په خبري ژانرونو کې ژورنالسټ د انډول، ریښتینولۍ او بې پریتوب اصولو ته په پامنیوي سره یوه پیښه یا موضوع د خپل نظر له شاملولو پرته غبرګوي.

په رسنیو کې د ژورنالیزم د اطلاع ورکولو هدف هم د بیلابیلو خبري ژانرونو په خپرولو سره خوندي کیږي.

- **تحلیلي ژانرونه:** که ژورنالسټ وغواړي چې یوه پیښنه په بشپړه او هر اړخیزه توګه وڅیړي او خپل لیدلوری او فکر هم ورشامل کړي نو د مقالې، تبصرې، نقد او کالم په چوکاټ کې له دې ډول لیکنو څخه استفاده کوي.

په ورځپاڼو کې د تحلیلي ژانرونو لپاره ځانګړې پاڼې وي. د تحلیلي ژانرونو لیکل د هر چا د وس خبره نه ده،همدا وجه ده چې په اکثرو معیاري رسنیو کې د تبصرو، مقالو او کالمونو لیکلو لپاره ځانګړي مجرب او کارپوه ژورنالستان ګمارل شوي وي.

د تحلیلي ژانرونو ارزښت په دې کې دی چې هره رسنۍ د خپلې پالیسۍ په رڼا کې د مهمو سیاسي، اقتصادي، امنیتي، کولتوري او ټولنیزو مسایلو اړوند خپل نظر په داسې بڼه وړاندې کوي چې پر مخاطبانو ښه اغیز وشیندي او عامه افکار له ځانه سره همغږي کړي.

- **تبلیغي ادبي ژانرونه:** په دې ژانرونو کې پیښنې او حقایق په هنري او ادبي چوکاټ کې داسې انعکاس مومي چې د مخاطب د روحیې پر ښودلو سربیره اصلاحي جنبه هم لري.طنز ،اوچرک، فلیتان او نور د تبلیغي ادبي ژانرونو بیلابیل ډولونه دي.

دا چې هر ژورنالستیک ژانر خپلې ځانګړنې، ډولونه او د لیکلو ځانګړي سبکونه لري، نو په ښوونیزو ژورنالستیکي مرکزونو کې د ځانګړو مضامینو په توګه لوستل کیږي، دلته پر نورو له تفصیله تیریږو او د اطلاعاتي ژانرونو کې یوائې خبریالي تر مطالعې لاندې نیسو.

## خبر ــــــ (NEWS)

### خبر د اطلاعاتي ژانر یو ډول

په حقیقت کې که د خبریالۍ مسلک مخینې ته و کتل شي نو جوتیږي چې ژورنالیزم یا خبریالي له هماغه پیله د اطلاع ورکولو یا خبرولو په هدف رامنځ ته شوې.

هغه مهال چې د چاپ ماشین اختراع شوای نه وو نو د وخت واکمنو او یا هم سوداګرو به تر خلکو د خپلو پیغامونو او د سوداګریزو توکو په اړه معلوماتو ورکولو لپاره له بیلابیلو وسیلو کار اخیسته. دا په واقعیت کې د دې مدعا ښه ثبوت دی چې ژورنالیزم په پیل کې یوازې د اطلاع ورکولو هدف تعقیبوه.

د خبر او اطلاع ورکولو دا ارزښت وو چې تر ننه د رسنیو یوه غوښنه برخه پاتې شوه او په مختلفو ډولونو په هر راز رسنیو کې یې خپل ځای ساتلی.

خبر د ورځپاڼې یا رسنیو لومړنۍ ماده ده نن سبا هیڅ داسې رسنۍ به نه وي چې خبر ونلري.

په رسنیو کې راز راز لیکنې او خپرونې شته وي چې د هرې یوې ښایي ځانګړي مینوال وي خو خبر یو داسې اطلاعاتي ژانر دی چې هر راز خلک ورسره لیوالتیا ښایي.

هم هغه راز چې د وخت په تیریدو سره د رسنیو په ښو کې ډیر تغیرات راغلل مختلف ډول رسنۍ رامنځ ته شوې نو د ژورنالستیکي ژانرونو په لړ کې د خبر لیکنې په برخه کې هم مختلف نظرونه او ډولونه رامنځ ته شول.

په دې بحث کې د خبر اړوند پر دې ټولو اړخونو په تفصیل غږیږو، خو تر هر څه وړاندې د خبر تعریف یا پیژند ته راځو.

**د خبر تعریفونه**

خبر اصلاً یوه عربي کلیمه ده، چې له حقوقي پلوه د قضایي او جزایي مسایلو اعلان یا اطلاع ته وایي. په انګلیسي ژبه کې یې معادله کلیمه «انفارمیشن»، او «نیوز» دي.

د ځینو ژورنالستانو په نظر چې د خبر معادله انګلیسي کلیمه « نیوز» د څلورو کلیمو یانې«نارت، ایسټ، ویسټ او ساوت» لومړني توري دي. د دوی له نظره د نړۍ له څلورو خواوو اطلاعات خبر بلل کیږي.

ځیني بیا همدا د نیوز کلیمه د انګلیسي کلیمې «نیو» جمع بولي، «نیو» یانې نوی او هره تازه او نوې پیښه خبر بولي.

برتانوی ژورنالست «ارنولډ هوفمن» د ژورنالستیک ژانرونو په نامه خپل اثر کې خبر په دې ډول راپیژني:

«د یوې ځانګړې ټولنیزې او نوې پیښې په اړه نسبتا لنډې اطلاعاتي لیکنې ته خبر وایي».

په اکسفورډ ډکشنرۍ کې نویو او جالبو معلوماتو او یا د نوې پیښې اطلاع ته خبر ویل کیږي.

د کابل پوهنتون استاد «پوهاند کاظم اهنګ» د «خبر» په نامه خپل اثر کې خبر داسې تعریف کړی:

«خبر د یوه هیواد د کورني او یا بهرني ژوند اړوند چې په کې د انساني اړیکو او اجتماعي ژوند په تړاو بحث وي اطلاع ورکولو ته وایي».

د یوه بل تعریف له مخې خبر د یوې داسې پیښې په اړه اطلاع ورکول دي چې ډېرو خلکو ته د پام وړ وي.

- هغه غیرمعمولي پیښې چې ټولنیز ارزښت او د خلکو لپاره په زړه پورې والی ولري خبر بلل کیږي.

- د یوې نوې پیښې بیانولو ته چې د خلکو په ژوند انه پورې تړاو ولري خبر بلل کیږي.
- خبر په لغت کې پوهې، خبرتیا، اطلاع او خبرې ته وایي، خو په اصطلاح کې هغه نوې پیغام لرونکې پیښې ته وایي چې ځینو خلکو ته جالبه او په زړه پورې وي.

ځینې بیا داسې وایي:

- خبر هغه خبرتیا یا پیغام رسوونه ده چې د یوې رامنځته شوې یا رامنځته کیدونکی نوې پیښې په اړه ځرګندونه وکړي.
- خبرپه لغوي ډول د خبرتیا او اطلاع په مانا راغلی، خو په اصطلاح کې د یوې نوې ښې یا بدې پیښې پیښیدو ته وایي چې د خلکو پاملرنه ځانته را واړوي، یانې چې یوه پیښه د ښه والي او یا هم بدوالي له مخې اوریدونکي ولري یا پر بله وینا:

خبر هغه خبرتیا ته وایي چې له هر وخت پیښیدونکو پیښو څخه په توپیر کله کله پیښیږي، خو یو پیغام او په زړه پورې والی ولري.

لنډه دا چې د خبر یاد تعریفونه او یا بل هر تعریف له یو نه یو اړخه نیمګړی دی، او تر اوسه هر چا ته د خبر پر یوه منل شوي تعریف هوکړه نه ده شوې.

## خبري ارزښتونه

هغه څه چې یو خبر ته پیژند ګلوي ورکوي،خبري ارزښتونه دي، دا ارزښتونه د خبر چوکاټ یا شکل جوړوي. خبریالان د خبر لیکلو پر مهال تر ډیره هڅه کوي چې همدا ارزښتونه وپیژني او خپل خبر په بهتره ډول خلکو ته وړاندې کړي. د پام وړ ټکی دا دی چې خبري ارزښتونه خپله د خبریالانو لخوا کوم جوړ شوي توکي نه دي، بلکې دا ارزښتونه په پیښو کې نغښتي دي، او د هغو راسپړنې او معلومولو ته د خبریال هڅه او زیار ته اړتیا ده.

د خبري ارزښتونو یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې د خبریال په واسطه د خبر پر پیژندنې سربیره د سوژو په موندنه کې مرسته کوي، او همدا راز د خبر په ځانګړې توګه د لیډ په لیکلو کې ورسره مرسته کوي.

البته هره پيښنه پخپل ځان کې لږ او ډير ارزښت لري، خو څومره چې د يوې پيښې ارزښتونه ډير وي نو هومره د خبريالانو د پام وړ ګرځي او د خبرونو په سر کې ځای نيسي.

که څه هم د خبريالۍ په بيلابيلو اثارو کې د دغه مسلک پوهانو د ګڼو خبري ارزښتونو يادونه کړې، خو د ډيرو په اتفاق يو شمير هغه ارزښتونه چې په لومړي سر کې راځي ، دلته يې يادونه کوو:

۱– **شهرت** : ټول هغه څيزونه، اشخاص، نهادونه، او ځايونه چې مشهور دي، خبري ارزښت لري. د بيلګې په توګه په سياسي ډګر کې نامتو سياستوال، د هيواد مشران، وزيران او نور، په فرهنګي برخه کې نامتو ليکوال، هنرمندان، شاعران ، په ورزشي برخه کې ورزشي اتلان ، په اقتصادي ډګر کې شتمن وګړي او نور.

همدارازد مشهورو څيزونو مثالونو کې کيدای شي د کوه نور الماس، ايفل برج، د باميانو بتان او نورو يادونه وکړو.

د بيلګې په توګه په نړۍ کې هره ورځ ممکن سلګونه او زرګونه کسان ومري، خو د ټولو د مرګ خبر يا نه خپريږي او که د ځينو خپور هم شي نو د رسنيو په لومړيو سرټکو يا صفحو کې ځای نه ورکول کيږي، خو که د يوه هيواد ولسمشر ومري نو بيا د هر ډول رسنيو د سر خبر جوړوي.

۲– **تازه والی** : په اوس وخت کې د خبري رسنيو تر منځ د سيالۍ بازار تر ډيره په همدې ارزښت ګرم دی چې هر يو يې د يوې پيښې په اړه د ژر اطلاع ترلاسه کولو او خپلو مخاطبانو ته د رسولو هڅه کوي. مخاطبان هم تر ډيره هغه رسنۍ تعقيبوي چې د يوې پيښې يا موضوع په تړاو ژر اطلاع ورکوي. نو ويلای شو چې تازه والی په واقعيت کې يو خبر ځواکمنوي.

نن سبا د خبريالۍ په ډګر د اطلاع رسونې پروسه هومره چټکه شوې چې د يوې پيښې خبر ممکن د خپل تازه والي ارزښت په يوه ساعت کې د ننه له لاسه ورکړي.

خو دا هم بايد له ياده ونه باسو چې د پيښې د تازه والي ارزښت د رسنيو د ډول له مخې هم يو څه توپير لري. د بيلګې په توګه د اونيزو لپاره د تيرې اونۍ پيښې هم خبري ارزښت لري، د يوې

ورځپاڼې لپاره بیا د تیرو ۲۴ ساعتونو پیښه نوې وې، د یو شمیر نړیوالو ټلویزونونو او راډیوګانو لکه سي این این، بي بي سي، او نورو ته د نیم ساعت مخکینۍ پیښه خپل ارزښت بایللی وي.

خبریال دا هم باید له یاده ونه باسي چې د تازه والی د ارزښت ساتلو تر څنګ د پیښې کره والی زیانمن نه کړي، ځکه ډیر کله تازه کار خبریالان خپلې رسنۍ ته د ژر خبر استولو په فکر کره ارقام او معلومات نه وړاندې کوي.

**۳– نږدیوالی :** که څه نن سبا د راز راز رسنیو په منځ ته راتګ سره د خلکو تر منځ د اړیکو واټن لنډ شوی او ان د لرو سیمو او هیوادونو وګړي یو بل سره ارتباط لري، خو بیا هم د خبري ارزښتونو په لړ کې د نږدیوالی ارزښت خپل ځای ساتلی.

له نږدیوالي څخه هدف یوازې جغرافیاوي نږدیوالی نه دی، بلکې نن سبا کولتوري، مذهبي، سیاسي او اقتصادي اړخونه یې هم مهم دي.

څومره چې د یوې پیښې خبر د یوې نږدې سیمې او سیدونکو ته مهم وي ښایي نورو ته هغسې نه وي. لکه په ننګرهار کې د یوه سل بستریز روغتون پرانستې خبر څومره چې د ننګرهار د بیلابیلو ولسوالیو استوګنو ته د پام وړ دی، د هرات او بیا نورو لرو ولایتونو استوګنو ته کم ارزښته وي. دا راز په امریکا کې کیدونکې ولسمشریزې ټاکنې افغانانو ته ځکه مهمې دي چې نن سبا په سیاسي چارو کې سره دواړه هیوادونه ډیر نږدې دي.

**۴– غیر عادي والی:** لکه چې په تیرو درسونو کې مو د خبر د تعریف اړوند ولوست که یو سپی انسان وداړي نو خبر نه دی، خو که انسان سپی وداړي نو خبر بلل کیږي. دا په واقعیت کې د خبر د همدې ارزښت یانې غیر عادي والي په مانا ده.

په ورځني ژوند کې ډیرې داسې پیښې رامنځ ته کیږي چې خلکو ته معمولي او عادي بریښي خو هغه څه چې له معموله خلاف رامنځ ته شي نو بیا د ډیرو د پام وړ ګرځي. لکه د یوې مور لخوا د پنځو یا شپږو اولادونو یو ځای ولادت، په اوړي کې د واورې ورښت او نور.

د ویلو ده چې ډیر کله خبریالان دا راز پیښې د خپل ځانګړې وړتیا او پلټونکې روحیې پر اساس پیدا کولای شي.

**۵- ټکر یا کانفلکټ :** له ټکره هدف هغه عملونه او پر وړاندې یې غبرګونونه دي چې د دوو ډلو، کسانو، ګوندونو، حکومتونو او حتی دولتونو تر منځ په مختلفو مسایلو کې راټوکیږي او د یو شمیر خلکو پر ژوند تاثیر لري.

د مثال په توګه د دوو سیاسي ګوندونو تر منځ پر یوې مسلې اختلاف راشي نو تاثیرات به یې نه یوازې پر اړوندو مشرانو نه، بلکې پر نورو غړو هم پریوځي.

یا په لویه کچه د دوو هیوادونو تر منځ سیاسي ټکرونه نه یوازې د دوی ولسونه بلکې نور ګاونډي او حتی د سیمې هیوادونه هم اغیزمنوي. نو ویلای شو چې ټکر یو له مهمو خبري ارزښتونو څخه دی.

**۶- پراخوالی :** څومره چې د یوې پیښې د اغیز ساحه او دایره پراخه وي، نو هومره یې ارزښت هم زیات وي. یانې هدف دا دی هر څومره چې د پیښې د اغیز ساحه ډیر خلک او مخاطبان راونغاړي، نو په هماغه اندازه یې ارزښت هم زیات وي.

د پراخوالي موضوع تر ډیره په شمیر پورې اړوند کیږي، که چیرې په یوه ترافیکي پیښه کې یو تن ټپي شوی وي، او بل ترافیکي پېښه کې لس تنه، دویمه موضوع تر لومړی د راقامو له اړخه پراخه ده، یا له افغانستان سره د یوه هیواد لخوا یو میلیون ډالر مرسته شوې او بل هیواد لخوا سل میلیونه ډالر، د سل میلیون ساحه پراخه ده.

## خبري عناصر (توکې)

د خبر اساسي عناصر عبارت دي له هم هغو لومړنیو او اساسي پوښتنو څخه چې خبر تکمیلوي او د نه ځوابیدلو په صورت کې لوستونکي یا اوریدونکي د اطلاع د نیمګړتیا احساس کوي.

دا خبري عناصر هماغه شپږ پوښتنې دي چې په انګلیسي کې د « 5W & 1H» او په فارسي کې د «سه چ – و سه ک » په نامه یادیږي.

د خبر اساسي توکی یا مهمې پوښتنې د یوې پیښې د پیښیدو سره سم دهر چا په ذهن کې ګرځي او غواړي چې دې پوښتنو ته یې دقناعت وړ ځواب وویل شي.

دغه شپږ بنسټیزتوکي هغه اصلونه دي چې یو مسلکي اوپه کار پوه ژورنالسټ یې د یوې پیښې پرمهال د خبرلیکلو په وخت کې مراعت کوي ترڅو خپل خبربشکلی او غني کړي.

د دغه پوښتنو دځوابولو په وخت کې یو خبریال (ژورنالسټ) اړ کیږي چې د بیلابیلو سرچینو سره وګوري ،د هغوی سره خبرې وکړي ترڅو یو بشپړ او کره خبرلیدونکو ، او ریدونکو او لوستونکو ته وړاندې کړي.

که چیرته یو ژورنالیست د خبرلیکلو پرمهال دغه شپږ توکي یا عناصر په نظرکې ونه لري نو خبر به یې غیرمسلکي او د نیمګړتیاوو څخه ډک وي ځکه دغه شپږپوښتنې هغه څه دي چې خبرپړې بشپړیدای او کره کیدای شي او دې پوښتنو ته د ځواب پیدا کولو لپاره خبریال هڅه کوي چې دقیق ،کره او پرځای ځوابونه پیدا او خپلو مینه والو ته یې وړاندې کړي.

دغه شپږ عناصر عبارت دي له:

| | | |
|---|---|---|
| • څه/څه شي | چه | What |
| • چا | کی/که | who |
| • چیرته | کجا | where |
| • څه وخت/کله | کی/چی وقت | when |
| • ولې | چرا | why |
| • څنګه | چطور | How |

له دې شپږو پوښتنو پرته خبر نیمګړی بې خونده او غیر مسلکي وي نو کوښښ باید وشي چې د خبر سریزه کې له بنسټیزو توکو څخه یوه یا څوو پوښتنو ته ځواب وویل شي.
او نورو پوښتنو ته په متن کې ځواب وویل شي.
دغه شپږ پوښتنې د خبر لپاره یو چوکاټ هم تشکیلوي که چیرته یوه پیښه یا واقعه په همدې چوکاټ کې واچول شې نو پخپله یو خبر ترې په لاس راوړی شي.

یوه یادونه ضروري ده اوهغه دا چې ژورنالستان تر اوسه په دې نه دې صلاح شوي چې د خبر له شپږو اساسي پوښتنو یا توکو څخه دې په خبر کې کومه یوه لومړی، دویم ، او یا دریم راشي خو په دې خبره سره ټول په یوه خوله دي چې خبر له همدې شپږو عناصرو څخه جوړ ژورنالستیک ژانر دی او د پوښتنو لومړیتوب د خبر په وختونو او موضوع پورې تړلي دي.
دا د ژورنالستې خوښه ده چې کومه پوښتنه په کوم ځای کې مناسبه ویني ځواب ورته وایي .

❖ **څه ، څه شی (What) ((چی)) : څه وشول؟ یا څه رامنځته شول؟**

دغه عنصر یا پوښتنه په یو فعل یا کار دلالت کوي څه شی رامنځته ته شو څه وشول بمي چاودنه وشوه، مړ شو ، مخالفت یې وکړه ، توپان راغی او داسې نور . دغه عنصر د پیښې په څرنګوالي کې مهم رول لري او د یو کار وضاحت وړاندې کوي.

❖ **چا((که)) (چی کس)(Who) چا دغه کار ترسره کړ؟**

دا پوښتنه په یوه خبر کې د یوه کس، کسانو او یا حقوقي یا حکمي اشخاصو په اړه وضاحت ورکوي. باید په یاد ولرو چې په دې پوښتنه کې یوازې د هغو اشخاصو په اړه چې په موضوع کې ښکیل وي معلومات نه ورکول کیږي بلکې د هغو اشخاصو اړوند هم باید وضاحت ورکړل شي چې له پیښې اغیزمنیږي.

لکه : څوک ؟ راشد خان

څوک ؟ د بهرنیو چارو وزارت .

څوک ؟ د دانګام ولسوالۍ استوګن.

څوک ؟ د افغان ملت ګوند

یا په بله وینا دغه پوښتنه یا توکي په پیښه یا واقعه کې د ښکیل لوري پورې اړه لري چې دغه ښکیل لوري یوازې فاعل یا کارکونکی چې دغه کار یې ترسره کړی وي نه محدودیږي بلکه په ځینو وختونو کې مفعول یا هغه کس چې دغه کار پرې ترسره شوی وي هم داخلیږي.

په دې برخه کې د فاعل او مفعول نوم ، تخلص، عمر، دنده، د اوسیدو ځای او داسې نور مشخصات اړین دي چې باید یو ژورنالیست یې ترلاسه کړي او د یوې ځانګړې ځیرې تر څنګ ډلې، ګوندونه، ټولنې ، استازې ، دفترونه، او ان تردې چې ملتونه په کې شامل دي.

❖ **چیرته((کجا)) (Where)په کوم ځای کې دغه کار ترسره شو ؟**

دغه خبري عنصر د یوې پیښې یا واقعی محل یا ځای په کوته کوي چې په دې سره د خبر مستند سازي رامنځته کیږي او په خپله په خبر کې محل یو اهم ارزښت لري چې د مخاطب لپاره په زړه پورې وي .د یو محل چې شاید یو تاریخي ارزښت ولري او زیات مشهور وي ژورنالیست باید د هغې په اړه هم معلومات ترلاسه کړي او ځای باید په ټولو ځانګړتیاو سره وښودل شي.

❖ **څه وخت یا کله((کی)) (When)دغه پیښه څه وخت رامنځته شوه؟**

دا عنصر د یوې پیښې او یا موضوع د رامنځته کیدا وخت ډاګیزوي ممکن دا پیښه رامنځ ته شوې وي او یا په راتلونکې کې ترسره شي.

لکه : کله ؟ نن د یکشنبې پر ورځ .

کله ؟ نن ماسپښین ۲ بجې او ۳۰ دقیقې.

کله : د راتلونکې سه شنبې پر ورځ

دغه عنصر یا پوښتنه د پیښې ، واقعې یا حادثې وخت روښانه کوي، چې تازه والی د خبر یوه اساسي ځانګړنه ده او مخاطب هم په دې تلوسه کې وي چې پیښه کله رامنځته شوه، نن، پرون، یا تر دې هم مخکې مثلاً په سرټکو کې راځې په جلال آباد ښار کې ترافیکي پیښې ۱۰ تنو ته مرګ ژوبله واړوله. ټول خلک په تلوسه کې شي چې دا حادثه به کله شوې وي.

❖ **ولې؟((چرا))(Why : دا پیښه ولې رامنځته شوه ؟**

دا د هغې انګيزې او يا لامل په اړه معلومات ورکونکې پوښتنه ده چې د يوې پيښې د پيښيدو سبب ګرځيدلې وي. په واقعيت کې د يوه خبر تر ټولو سخته پوښتنه همدا وي، ځکه ژورنالست د دې پوښتنې په ځوابولو سره پيښه تشريح کوي.

لکه ولې؟ د ورپيښې ناروغۍ له امله.

ولې ؟د ترافيکي ګڼې ګوڼې له امله.

ولې؟د دواړو هيوادونو ترمنځ د ټوکيدلو اختلافاتو له امله.

په دې پوښتنه کې د يوې پيښې، واقعې يا حادثې لاملونه راسپړل کيږي چې دا يو ستونزمن کار دی خو په ځينو مواردو کې بيا اسان هم وي لکه بمي چاودنه وشوه (ولې) ځکه د ايساف کاروان د تيريدو په حال کې و.
هميشه خلک هم غواړي ترڅو د ولې پوښتنه يې ځواب شي خو په ځينو وختونو کې د دې پوښتنې د ځواب لپاره پراخه تحليل يا څيړنې ته اړتيا وي چې د دغه تحليل لپاره ژورنالستان اړدي ترڅو د چارو د يوشمير شنونکو سره اړيکه ولري او د ضرورت په وخت کې يې نظر راواخلي لکه ولې په افغانستان کې امنيت نه ټينګيږي؟ ولې ورځ تر بلې د خوراکي توکو بيې لوړيږي؟

❖ څنګه ((چطور)) (How) دا پيښه څنګه رامنځته شوه ؟

دا پوښتنه د يوې پيښې د رامنځ ته کيدا څرنګوالی يانې ترتيب او کيفيت يې ډاګيزوي. لکه:

څنګه ؟ د خوښۍ او مستۍ په حالت کې .

څنګه ؟ په ډير غم او خپګان سره .

دغه پوښتنه توصيفي جنبه لري او د يوې پيښې د رامنځته کيدو څرنګوالی کوي چې يوه پيښه څنګه رامنځته شوه.
دغه شپږ پوښتنې په خبرې ارزښتنو پورې هم تړاو لري لکه (څوک) چا د خبر شهرت ، چيرته ( کجا) د خبر په جغرافياوی ارزښت(کې) څه وخت په تازه والی پورې اړه لري.

نو ویلای شو د خبر توکي یا عناصر د خبرستنې دي چې یو خبر کولای شي په هغې ډډه ولګوي او د خبر اسکیلټ یا چوکاټ تشکیلوي خبریال یوائې د دغه اسکلیټ د ډ کولو کوښښ کوي او په اسانی سره کولای شي په خپلو کارونو کې برلاسی شي.

**د شپږو اساسي پوښتنو یا توکو د کارونې ګټې**

- د څوک توکی یا عنصر د پیښې عامل شخص راپه ګوته کوي.
- د څه یا څه شي توکی د پیښې اصلي موضوع راپیژني .
- د چیرته توکی د پیښې ځای یا محل روښانه کوي.
- د څه وخت توکی د پیښې وخت راښایي.
- د ولې توکی د یوې پیښې اصلي لاملونه روښانه کوي .
- څرنګه توکی د یوې پیښې د پیښیدو څرنګوالی راښي.

وروسته تردې چې یو ژورنالیست د یوې پیښې په اړه معلومات یا خام مواد راټول کړي د خبر په لیکلو لاس پورې کوي چې دا یوه حساسه مرحله ده په دې مرحله کې ژورنالیست باید له ډېر احتیاط څخه کار واخلي او راټول شوي معلومات په داسې یو شکل د خبر په قالب کې واچوي چې د محاطبو د پاملرنې وړ وګرځي .
په دې برخه کې خبریال لوی لاس لري ځکه په اصل کې دلته خبریال د راټولو شوو موادو لپاره لباس جوړوي نو که لباس هر څومره ښکلی او جزاب وي په زیاته اندازه ستایل کیږي.
د خبر لیکلو مرحله د یو ژور نالیست لپاره تر ډېره حده مهمه مرحله ده ځکه هغه معلومات او اطلاعات چې یو خبرېال یې د راټولولو په وخت کې بیلا بیلې ستونزې ګاللی او یو شمیر ادارو دروازې یې ټکولی وي خو د خبر لیکلو په وخت یې ورته چندان پاملرنه ونه کړله ټوله خواري یې عبث ده ځکه چې خبر به یې په زړه پورې والی ونه لري .
د ژورنالیست لپاره اړینه ده چې د خبر لیکلو په وخت د پوره دقت او غور څخه کار واخلي او د خبر لیکلو دغه حساسه مرحله په پوره فکر ترسره کړي ترڅو خبریې ښکلی او د خلکو د خوښې وړ

وګرځي چې له یو پلوه به یې خواري عبث نه وي تللی او له بل پلوه به یې خپل مسولیت چې د ټولنې پر وړاندې یې لري ترسره کړای وي.

د خبر په هر ډول کې د یادو پوښتنو ځوابونو ته ویل شوي وي، خو نن سبا د خبري رسنیو د چټک فعالیت له امله په بیړنیو خبرونو یا «بریکنګ نیوز» کې د یوه خبر اړوند لومړني اطلاعات چې ښایي د یادو ټولو پوښتنو ځوابونکي ونه اوسي، هم د خبر په بڼه وړاندې کیږي. د دې چارې هدف له یوې خوا خپلو مخاطبانو ته د لومړنیو اطلاعاتو رسولو له لارې تر پایه هغوی له ځانه سره ساتل دي او له بلې خوا په رسنیز ډګر کې تر خپلو نورو سیالانو وړاندې کیدل.

کله کله په خبر کې پر یادو خبري عناصرو سربیره یو شمیر نورې پوښتنې هم راټو کیږي چې د خبر تکمیلونکې وي، نو په کار ده چې خبریال د خبر جوړولو پر مهال دې موضوع ته پاملرنه وکړي، او په خپل خبر کې کومه داسې مهمه پوښتنه بې ځوابه پرینږدي چې له مخاطب سره د نیمګړو معلوماتو فکر پیدا شي.

## د خبر لیکلو مهم اصول

د ژوند د نورو چارو په پرمختګ او پیچلي کیدا سره په خبر لیکنه کې د یو لړ اوصولو مراعاتولو اړتیا رامنځ ته شوې. نن سبا خبر لیکل او خلکو ته وړاندې کول هم کوم ساده او غیر مسولانه کار نه دی، بلکې د خلکو پر وړاندې د یو ستر مسولیت منل دي.

هغه څه چې اوس د خبر لیکلو د اوصولو په توګه ډیر مهم ګڼل کیږي، عبارت دي له:

**۱– دقت:** که څه هم په خبر لیکلو کې وخت یو ډیر مهم ارزښت دی، خو خبریال باید هیڅکله هم په پیښه کې دقت د وخت قرباني نه کړي. همدا وجه ده چې مجرب ژورنالستان د یوې پیښې په اړه د کره معلوماتو ترلاسه کولو په هدف د پیښې اړوند له څو سرچینو سره تماس نیسي، تر څو په ډیر دقت سم او کره معلومات راټول کړای شي.

**۲- بې طرفي او انډول مراعاتول :** اصلا په ټولو خبري ژانرونو کې د بې طرفۍ اصل مراعاتو یو مهم اصل دی. که په خبر کې ژورنالسټ دې اصل ته پام ونه کړي نو نه یوازې خپل بلکې د خپلې اړوندې رسنۍ اعتبار هم زیانمنوي. د معیاري رسنیو ادارې تل پر خپلو خبریالانو ټینګار کوي چې کله د یوې پیښې اړوند دوه غاړې ښکیلې وي او له یوې خوا کومه ادعا، شکایت او یا نیوکه شوې وي، نو په کار ده چې د بلې غاړې نظر او ځواب هم ترلاسه کړي.

**۳- انصاف :** دا اصل تر ډیره اخلاقي اړخ لري. خبریال د خبر جوړولو پر مهال انصاف باید له پامه ونه غورځوي، دا اصل هله مراعاتیږي چې خبریال د موضوع اړوند کافي معلومات ولري،تر څو وکړای شي چې د خبر ښه والی او بدوالی، کامیابي او ناکامي، کمزوري او قوت تشخیص کړي. د انصاف د اصل په مراعاتولو سره مخاطبان کولای شي چې د پیښې اړوند په معقول او عادلانه ډول تصمیم ونیسي او قضاوت وکړي.

## د یوه خبر د بشپړولو لارې چارې

د دې لپاره چې یو خبر په بشپړه او قانع کونکې بڼه ولیکل شي، نو خبریال باید له لاندنیو دریو روشونو په استفادې سره خپل معلومات او فاکټونه راټول کړي:

۱– مشاهده « لیدنه» : په لومړي پړاو کې خبریال باید کوشش وکړي چې خپله د پیښې عیني شاهد اووسي، ځکه هغه اطلاعات چې له دې لارې یې ترلاسه کولای شي په هیڅ صورت د مرکو او یا نورو سرچینو یې نشي موندلای. د یوه خبریال مشاهده یا لیدنه د یوه عادي وګړي تر لیدنې باید توپیر ولري، یانې دی باید د حساسیتونو، غبرګونونو، د ځیرو پیژندلو او د پیښې د فضا درک کولو وړتیا ولري.

۲–مرکې : که په یوه پیښه یا خبري موضوع کې خبریال خپله حاضر اووسي، خو بیا هم یو لړ رسمي سرچینو او مسولو کسانو سره مرکو ته اړتیا لري، خبریال باید د پیښې اړوند کسانو غبرګون معلوم کړي، او هم د عیني شاهدانو اطلاعات راټول کړي.

په ډیرو خبرونو کې خبري معلومات له مرکو څخه ترلاسه کیږي، همدا راز سندونه، شمیرې، غبرګونونه او د خبر توازن هم په مرکو پورې تړلی وي.

۳–ځیړنه یا تحقیق: د خبر د تکمیلولو دریم پړاو ځیړنه ده، کله کله خبریال د خپلو معلوماتو بشپړولو لپاره اړ وځي چې د پیښې په اړه یوه لنډه ځیړنه وکړي، تر څو د موضوع په اړه پخواني معلومات، شمیرې او یا نورې تړلې پیښې څرګندې کړي.

# د خبر جوړښت

خبر په ټوله کې له دریو اساسي برخو څخه جوړ وي،چې لومړنۍ برخه یې لیډ ، ورپسې متن او بیا بکګراونډ یا شالید وي.

البته په چاپي رسنیو کې د خبر لپاره عنوان هم اړین وي خو په راډیویي او ټلویزوني خبرونو کې بیا دا برخه مهمه نه ده.دلته د خبر هغه برخې تشریح کوو چې په هر راز رسنیو کې مهمې وي:

۱- لیډ News Lead : دا یوه انګلیسي کلیمه ده چې د لارښوونې او هدایت په مانا ده، په ژورنالیزم کې بیا لیډ د خبر یا رپوټ د لومړني پراګراف په مانا سره کارول کیږي، چې د موضوع اساسي پوښتنې په کې ځوابیږي.

د هر خبر د بري راز تر ډیره په لیډ کې نغښتی وي،یاني که لیډ پر داسې الفاظو پیل شي چې د مخاطبانو د پام وړ وګرځي، نو بیا تر پایه لوستلو یا اوریدلو ته یې وخت ورکوي،خو که دا برخه یې کمزورې وي نو ښایي مخاطب د خبر پاتې برخه تعقیب نه کړي.

لوستونکي په ناڅاپي ډول لاندې کول او لوستلو ته د هغوی پام را اړول د خبر د لومړۍ کرښې لیډ (Lead) اصلي دنده ده، فرانسویان لیډ ته حمله یا حمله کوونکې جمله وايي.

هماغه راز چې د یوه خبر په لیډ کې له شپږو خبري عناصرو مهم هغه یې ځوابیږي،نو په رپوټ کې هم تر ډیره همدا اصل مراعاتیږي.

د جګړو په اړه راپور ورکوونکي خبریالان پیلامه د خبریال وسله ګڼي او د هغوی په اند که خبریال په هم هغه لومړي سر کې په لوستونکو د دغې وسلې وار ونه کړي، نو داسې وګڼئ چې جګړه یې بایللې ده.

د لیډ همدې ارزښت ته په پام سره ده چې باید د لیکلو پر مهال یې له ډیر غور او فکره کار واخیستل شي،تر څو په لنډو خو زړه راښکونکو کلیمو کې ډیر څه راونغاړل شي.

د ویلو ده چې پخوا په ژورنالیزم کې تر ډیره ټینګار پر دې وو چې باید د خبر په لیډ کې شپږ اساسي پوښتنې یانې«څوک،کله،چیرته،څه،ولې،څنګه»ځواب شي،خو په را وروسته کلونو کې

ژورنالستان متوجه شول چي دا ډول ليډ له يوې خوا د مخاطبانو لپاره جالب نه وي،او له بلې د شپږو يادو پوښتنو په ځوابولو سره ليډ خورا اوږديږي. له همدي امله نن سبا ډيری ژورنالستان د رپورټ يا خبر په ليډ کې يوازې له يادو شپږو پوښتنو د مهمو هغو ځوابول اړين ګڼي او پاتي نورې يې د رپورټ يا خبر په متن کې ځوابوي.

که څه هم د ليډ لپاره د کليمو پر شمير کومه منل شوې هوکړه نه ده شوې،او د هر ليډ اندازه اړوند رپورټ پورې اړه لري، خو تر ډيره له شاوخوا ۳۰ کليمو جوړ ليډ ښه ګڼل کيږي.

**۲–د خبر متن يا منځنۍ برخه:** د خبر دا برخه چي تشريحي يا سپړيزه برخه هم بلل کيږي،له ليډ وروسته پيليږي.

په دې برخه کې د پيښې څرنګوالی، د موضوع اړوند د ښکيلو کسانو خبرې رانغاړل کيږي.

په ليډ کې د ځواب شويو پوښتنو پر وضاحت سربيره د موضوع اړوند نورې اړينې پوښتنې ځوابيږي. ياني ژورنالسټ بايد د خبر اړوند هغه معلومات وړاندې کړي چي مهم بريښي،تر څو له اوريدونکو سره کومه پوښتنه بې ځوابه پاتې نه شي.

د خبر د متن يا منځنۍ برخې ليکلو پر مهال بايد لاندې لارښوونې په پام کې ونيسو :

– دا چي د خبر په دې برخه کې له اړوندو سرچينو سره د شويو مرکو نقل قولونه هم راوړل کيږي،نو دا نقل قولونه بايد د يو منطقي تسلسل له مخې ترتيب شي.

– په دې برخه کې بايد هڅه وشي چي لنډې جملې او اړيني کليمې وکارول شي.ځکه د اوږدو جملو کارونه له يوې خوا نطاق ته د لوستلو ستونزه پيدا کوي او له بلې ښايي د مطلب په رسولو کې هم اوريدونکو ته ستونزمن شي.

– متن بايد په داسې ژبه وليکل شي چي اکثريت وګړو ته د پوهيدا وړ وي، ځکه ژورنالستيکه ژبه له ادبي او علمي ژبې څخه توپير لري. خو دا هم بايد له پامه ونه باسو چي د کليشې جملو او کليمو تکرار مخاطبان ستړي کوي.

- راټول شوي ارقام، فاکټونه او نومونه باید په دقیقه بڼه ولیکل شي.

**۳- شالید یا بکګراونډ :** دا د خبر وروستۍ برخه ده چې معمولا د موضوع اړوند وروستي معلومات او د پیښې شالید ته په کې اشاره کیږي. بکګراونډ اصلا یوه انګلیسي کلیمه ده چې په پښتو کې ورته شالید ،پس منظر او یا شاځمکه هم وایي.

بکګراونډ د یوې پیښې د پیښیدو دلایل،د پیښې تاریخچه،او یا پیښې پورې اړوندې مخکینۍ پیښې روښانوي،او ټاکنه یې هم د لیکونکي ژورنالسټ شخصي مهارت دی.

د دغې برخې ارزښت په دې کې دی چې اوریدونکي یا لوستونکي د پیښې له مخینې خبروي،تر څو د موضوع په تړاو لا ښه اطلاع ترلاسه کړي، خو دا معلومات هم باید لنډ وي،نه دا چې د مخاطب د ستړیا سبب شي.

په اوسني عصر کې چې د رسنیو د پرمختګ دور هم ګڼل کیږي ټول مطبوعات یو له بل سره رقابت لري او غواړي په یو نه یو ډول خپل مینه وال زیات کړي تر څو خپل اهداف ترلاسه کړي.

په دې وخت کې پیغام اخیستونکي هم پریکړه کوي چې څه باید وګوري له کومو څخه تیر شي ، همدا سرټکي دي چې په لیدلو سره یې لیدونکي پریکړه کوي چې د خوښې وړ کوم خبر یې شته او کنه که شتون ولري تر پایه یې ګوري خو که د خوښې وړ څه یې پیدا نه کړل نو له هغه څخه تیریږي او پر ځای یې بلې سرچینې ته سر ورښکاره کوي.

**سرټکي:**

د خبر یا رپوټ لپاره نوم یا سرټکي په راډیو او تلویزیون کې د اوریدونکي یا لیدونکي لپاره هغومره جوت نه وي لکه په ورځپاڼه او انلاین ژورنالیزم کې چې یې وینو.

په ورځپاڼه کې که د یوه مطلب لومړنی عنوان لوی وي ، که دوه یا درې نور واړه عنوانه هم ولري عیب نه دی . خو په انلاین کې لومړنی عنوان یا هیډلاین یو او هغه هم باید خورا کوچنی وي.

د محدودیت په سر یې بله ستونزه دا ده چې باید په همدې لږو ټکو کې پوره مطلب ځای شي هم ولري چې لیدونکی یې پرانیستلو ته وهڅوي. )Suspense( او تلوسه

د ۲۰۰۷ کال د جولای په میاشت کې چې د سکاټلنډ د ګلاسګو پر هوایي ډګر د برید په تور دوه کسان ونیول شول هغوی دواړه ډاکټران وو.

وروسته له هغې پیښې سره د تړاو په تور نیول شوي شپږ نور کسان هم یا ډاکټران وو او یا یې هم له روغتیا سره په تړاو کار درلود.

ځینو برتانوي رسنیو دغه خبر ته داسې سرټکی غوره کړي وو:

د مرګ ډاکټران

په دغه سرټکي کې پټ طنز نغښتی و. ډاکټر د انسان د رغولو په هڅه کې وي له مرګه یې را ګرځوي خو دغو ډاکټرانو چې ګواکې د انسانانو د وژلو نیت لاره د درملنې پر ځای د وژنې ډاکټران بلل شوي وو.

د سرټکي لیکلو لپاره انلاین ژورنالیسټ ته عموماً دغه څو وړاندیزونه کیږي:

۱ : لنډ سرټکي ، د ان لاین کاروونکو په باب سروې په ګوته کوي چې د ان لاین کارونکي لنډ خو ژر راښکونکي عنوانونه جلبولی شي. که سرټکي لوی وي او زر جلبونکي نه وي ښایي لیدونکي اصلاً د مطلب د پرانیستلو هڅه ونه کړي.

۲ : دومره لنډ هم نه چې هیڅ مانا یا ارزښت ونه لري . له لنډ سرټکي څخه مطلب دا هم نه دی چې سرټکي بې مانا شي. د ساري په توګه ((د پیښنور د پیښه ورو پیښنه )) لنډ سرټکی دی ، تجنیس لري ، خندونکی دی، تلوسه هم لري خو بشپړ یې نه شو بللی . دغه سرټکي دا نه وایي چې د څه شي پیښنه او په څه شوې.

یا (( کرزی په افغانستان کې )) دا هم بشپړ نه شو بللی. دا سرټکی ښایي دا مانا ورکړي چې ملا حسن اخوند په افغانستان کی دی. یا دا وي چې په افغانستان کې د ده واکمنۍ ته کتنه کوو.

د همدې دوارو مطالبو لپاره لنډ خو بشپړ عناوین ښایي داسې وي:

((پیشه ورو په پیښور کې کاربندي وکړ)) دا عنوان بشپړ دی، دلته بیا هم تجنیس شته، خبره معلومه ده چې څه شوي دي او چیرې شوي دي.

دویم عنوان: ملا حسن وطن ته په ستنیدا بدلو نو نه اعلان کړل

دا عنوان هم بشپړ، لنډ او مطلب رسونکی دی.

په ۲۰۰۷ کال کې چې د یوې هندي فلمي ستورې اشوارا رای د واده خبر خپور شو نو د بي بي سي پښتو ویبپاڼې د دې انځوریز خبر خپور کړ او داسې عنوان یې ورته وټاکه:

د پیغلو مشره یې واده کړه.

دا عنوان ډیر لنډ دی، د پیغلو د مشرې په ویلو ډیره تلوسه پیدا شوې، په عین حال کې پټ طنز هم پکې نغښتی دی. کیدای شي څوک ووایي چې د ستورې نوم نشته شاید بشپړ یې ونه بولو خو له دغه عنوان سره د اغلې رای عکس وه چې د هغې په مټ یې بشپړ بللی شو.

۳ : د اصلي مطلب کوچ دې را ټول شي خو باید په ډېرو جزییاتو کې نه وي. د ان لاین ژورنالیزم استادان د یوهٔ ښه سرټکي یوه بله ښیګڼه په دې کې ویني چې د ټول مطلب خلاصه پکې نغښتل شوې وي.

خو د دې مانا دا نه ده چې دومره جزییات دې ولري چې لوستونکی د نور مطلب له لوستو راوګرځوي.

۴ : له کلیشو باید ځان وساتل شي. هره هغه خبره کلیشه ده چې تکرار شي. که د طالبان ټیلې بن خبره په دویم ځل وشي تکرار ده، که د پیشه ورو په پیښور کې بیا بیا ووایو خوند یې ځي.

۵ : پیچلي یا ژر نه پوهیدونکي سرټکي دې نه وي. هغه عنوان چې لوستونکی زر مطلب ته ونه رسوي په ان لاین کې بریالی نه دی.

## سرلیک په چاپي رسنیو کې

سرلیک دخبري مهم توکی ګڼل کیږي،ځکه دلوستونکو اورسنۍ اړیکه ټینګوي دخلکو پام وراړوي،دخبرپیغام په لنډ ډول وړاندې کوي.خبري مطالب له یوبل څخه جلا کوي درسنیو مخونه ښکلي کوي.کره والی،لنډون،څرګندتیا او زړه راښکون دغوره سرلیک ځانګړنې دي.

دسرلیکونو په مرسته لوستونکي دخپلي خوښې خبرونه په اسانه موندلی او لوستلی شي.له همدې امله سرلیک ته دمتن اعلان هم ویل کیږي،ځکه لوستونکوته دمتن لوستلو بلنه ورکوي.

سرلیک لیکنه په ورځپاڼه لیکنه کې تر ټولو ستونزمن کاردی،خوصوصاً دورځپاڼو دلومړي مخ سرلیک لیکل یوازي تجربه کاروخبریالانوکاردی که مهم خبرترخراب سرلیک لاندې خپورشي،نولوستونکي ورته پام نه کوي.

## دسرلیک ځانګړنې:

ښه سرلیک لاندینۍ ښیګڼې لري:

۱–دخبرلنډیزیامهم ټکي بیان کړي.

۲–دخبرله متن سره همغږی وي

۳–اسانه،ساده اودپوهاویوړوي.

۴–دورځپاڼې نظر څرګندونه په کې نه وي.

۵–دلوستونکو پام وراړوي

۶–داخلاقي ارزښتونو دپیروي ترڅنګ راښکون هم ولري.

۷–ډیر ساده اواوږد نه وي.

۸–تکراري کلیمې ونه لري

۹–مخاورې او استعارې په کې ونه کارول شي.

۱۰–دټایپ او خطاطۍ له پیچلتیاوو خوندي وي.

۱۱–په منفي او سوالیې جملې ونه لیکل شي.

## د سرلیک ډولونه:

سرلیکونه عموماً په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

## قولي سرلیک Quotation Lead

قولي یا اقتباسي سرلیک هغه دی چې دخلکو څرګندونې په کې راخیستل شوې وي. دغونډوو ،پرګرامونو، ویناوو ،اعلانونو او نورو خبرونو سرلیکونه عموماً قولي سرلیکونه دي . دبیلګې په توګه

امیر خان متقي؛ (دافغانستان او ترکیې ملګرتیا همېشنۍ ده)

داقولي سرلیک دی.یانې دغه سرلیک دوینا وال یاد خبر له متن څخه کټ مټ رااخیستل کېږي.

**دقولي سرلیک ډولونه:**

قولي سرلیک په دوه ډوله دي.

**الف: انفرادي:**

هغه سرلیک دی چې په هغه کې دیو کس نظر راخیستل شوی وي.

**ب: ټولنیز:**

له یوه څخه دزیاتو کسانو ،ډلو ، ګوندونو اونورو ټولنیز نظر ورکړل کېږي.

لکه:

(کوکنار کښت به ختموو)

په پلازمېنه کابل کې لویې غونډې ته ویناوالو څرګندونې

## ۲:بیانیه سرلیک

بیانیه سرلیک هغه سرلیک ته ویل کېږي چې په هغه کې دپېښې لنډیز یا مهمې خبرې په بیانیه انداز وړاندې کېږي.یانې.خبر لیکوال دپېښې روح په خپلو کلیمو کې بیانوي. دبیانیه سرلیک جوړول دقولي سرلیک جوړولو څخه ډیر سخت وي. مسوول یا دخبرونو مدیر دبیانیه انداز سرلیک لیکلو مهارت او وړتیا لري.

له پورتنیو سرلیکونو څخه څرګندیږي چې په هر سرلیک کې دخبر لنډیز سرلیک جوړونکی په خپلو کلیمو کې بیانوي.

## ۳:غیر عادي سرلیک Novelty Hedline

هغه سرلیک ته ویل کیږي چې دکومې قاعدې دپیروي پرځای عجب اوپه زړه پورې وي داقولي سرلیک هم کیدلی شي اوبیانیه هم .غیر عادي سرلیک عموماً دپه زړه پورې اوعجیبو پېښو دخبرونو په هکله وي. لکه په یوه پېښه کې تریو کوچنې ماشوم پرته نور ټول وژل کیږي. په ښکاره دماشوم دژغورنې کوم امکان نه وي،مګر هغه په معجزاتي ډول خوندي کیږي. ددې ډول خبر سرلیک په ډیر زېورې انداز ورکول کېږي

## ۴:اشاري سرلیک Catch Lin Headline

داسې سرلیک چې په هغه کې اصل پېښې دځای یا ډول دبیانولو پرځای داشارې په توګه یویا دوه درې کلیمې لیکل کیږي. دبیلګې په توګه (په عراق کې پرامریکایي پوځي اډه دراکټونو برید) پرځای دا اشاراتي سرلیک ورکول کیدلی شي.

عراق

پر امریکایي اډه در اکټونو برید

یا : هلمند

دنشه یې تو کو په کبنت کې کموالی راغلی دی

داسرلیک عموماً دهغه خبر لپاره کارول کېږي چې له مهمې پېښې پوري اړه لري اوپه هغه کې د پېښې دپېښېدو ځای نوم داشاري په توګه له ورکولو سره په دې خبره پوه شي چې هغه پېښه چېرې شویده ددې ډول سرلیک ورکولو موخه داده چې په لږځای کې راځې او مطلب هم څرګندېږي.

## دسرلیک لیکلو وړتیا :

دسرلیکونو لیکل تر خبر یا مضمون لیکنې څخه زیات سخت دی، ځکه سرلیک په ځو محدودو کلیمو کې دخبر لنډیز بیانوي.که په سرلیک کې دخبر مهمه نکته رانه شي، نو ناکام دی، ځکه نوم دسرلیک لیکلو کار تجربه لرونکو خبریالانو ته سپارل کیږي مسوٴول مدیر هم سرلیکونه له نظره تیروي اوکه اړتیا وي،نو بدلون په کې راوړي. دېنو سرلیکونو لیکلو لپاره ددغو وړتیا ولرل اړین دي.

**١ــ دخبرتل ته رسیدل:**

دخبر تل ته رسیدل اسانه نه دي ډیر خبرونه څو مهمې خبرې لري په هغو کې دمهمو خبرو انتخاب او په موزونو کلیمو کې وړاندې کول ستونزمن کار دی، ځکه ددي لپاره دریات غور او فکر فرصت هم نه وي

**٢-پرژبه برلاسی:**

که څه هم دهر ژورنالستیک کارلپاره پرژبه برلاسی اړین دی. مګر دسرلیکونو دجوړولو لپاره په ځانګړي توګه پر ژبه برلاسی اړین دی. ځکه دسرلیکونو اومتن همغږي اولږ ترلږه په کلیمو کې

پوره خبره ویلو اړتیا وي اودا کار هغه مهال کیدلای شي چې دژبې او کلیمو اودهغوي دډول ډول استعمال تجربه اوعلم وي

**۳ـ تجربه:**

دښه سرلیک لیکلو لپاره تمرین انسان بشپړوي.له تمرین څخه موخه داده چې په دي برخه کې يې ځان ډير ازمايلی وي،دومره چې تجربې يې پخې شوې وي اودسرلیک لیکلو وړتیا يې پره وده کړې وي.

**۴ـ تخليقي وړتيا:**

سرلیک جوړول یوازې تخنیکي کارنه دی.ددې لپاره دتجربې،تمرین او علم ترڅنګ تخلیقي وړتیا خپل ارزښت لري، ځکه یوازې میخانیکي مهارت کارنه ورکوي. دسرلیک جوړولو لپاره تخلیقي وړتیا اړتیا وي.

## دسرلیک لیکلو اصول:

دسرلیک لیکلو اصول په دوه ډوله دي:

**الف: اخلاقي**

**ب: فني**

**اخلاقي اصول:**

دسرلیکونو جوړولو اخلاقي اصول دادي چې سرلیک ګمراه کونکی اوتېرایستونکی نه وي،چاته پکې سپکاوی نه وي شوی. له متن سره همغږي ولري. په زړه پورې اوراښکونکی وي.

**فني اصول:**

فني اصول د سرليک لپاره د کليمو انتخاب دی. لکه که د ګرامر له پلوه نيمګړې جمله د ښه سرليک کار ورکولی شي،نود بشپړې ګرامري جملې اړتيا نه شته او که يو کالمه سرليک وي، نو کليمې ښايې همغومره محدودې وي،خو که سرليک دوه يا درې منزله وي، نو کليمو شمېر ډېريږي.پر دې سربيره د هر سرليک جوړولو پرمهال له سرليک سره دا وضاحت هم کېږي چې هغه سرليک په څو کرښو کې، څو کالمونو کې او په کوم شکل وليکل شي.لنډه داچې له فني اصولو او چاروسره بلدتيا نه پرته د موزون سرليک جوړول سخت دي.

## د سرليک ليکلو لارې:

سرليک ليکل کومه ټاکلي طريقه نه لري،ځکه دا يوډول تخليقي کار دی، خو بيا هم دوه داسې طريقې شته چې استفاده ترې کيدلی شي يوه برتانوي او بله امريکايي طريقه د سرليک ددې طريقو يوه ځانګړنه داده چې جمله نيمګړې وي.لکه

په ترافيکي پېښه کې پنځه مړه او شپږ ټپيان

دا جمله له ګرامري پلوه نيمګړې ده، خو د سرليک له پلوه موزونه ده. ددې برعکس امريکايي طريقه کې عموما سرليک يوه پوره جمله فاعل،فعل او مفعول وي. که هغه جمله په هر څو کرښو کې راشي.دامريکايي طريقې سره سم دپورتنې سرليک بڼه داده:

په يوه ترافيکي پېښه کې پنځه تنه مړه او شپږ نور ټپيان شول

خبريالان بايد د سرليک دليکلو لپاره له ټولو اړوندو امکاناتو څخه کار واخلي.له شعري ذوق نه هم کولای شو د سرليک په ليکلو کې ګټه واخلو ځينې وختونه کولای شئ د شعر په ژبه جوړشوي سرليک ځانګړې مانا او مفهوم وړاندې کړي.

سرليک بايد د خبر د متن تر بشپړولو وروسته وليکل شي.شعاري اوتکراري کليمې په کې رانه وړل شي.له پيلامې يا متن سره همغږي ولري.

## پیلامه:

پیلامه په انګریزي کې یې intro lead بولي. انټرو داانټروډکشن introduction مخفف دی اوانټروډکشن دپیژندنې په مانادہ. هره خبرې پیلامه اړونده خبرې کیسه،خبریا پیښنه اوریدونکو اولوستونکو ته ورپیژني.دپیلامې په اړه ګڼ تعریفونه شوي دي چې ځویې په دي ډول دي

دخبرلومړی جملي یا څو جملو ته پیلامه وایي.

لوستونکې په ناڅاپې ډول لاندې کول اولوستلوته دهغوي پام را اړول دخبر دلومړی کرښې لیډ (Lead) اصلي دنده ده.

فرانسویان لیډ ته حمله یا حمله کونکې جمله وایي.

پیلامه دخبري کیسې لومړنی اوډیره مهمه جمله ده. دپیلامې برخه ځینو اساسي پوښتنو ته ځواب وایي.پیلامه دخبر دمهمو معلوماتو لنډیز اودخبري کیسې یوه لنډه پیژندنه ده،

دغه پیژندنه ښایي دومره روښانه اوپه زړه پورې وي چې لوستونکی پاتې خبرلوستلوته اواوریدلوته وهڅوي خوداکار ښایي تردیرشو کلیمو پورې رالنډ شي.

پیلامه دخبر ډیره مهمه برخه ده، ځکه دخبر له ټولو ارزښتناکې برخې څخه غوره کیږي دهر خبر دبري رازترډیره دهغه په(پیلامې) پورې اړه لري. څومره چې دیوه خبر پیلامه په زړه پورې وي نو په همغه اندازه یې ډیر اوریدونکي اوري.بریالی پیلامه هغه ده چې دډیرو دپام وړ وګرځي اوله نورو چارو څخه دلیدونکو، اوریدونکو اوکتونکو پام دځان په لور وروا اړوي.

دجګړوپه اړه راپور ورکونکي خبریالان پیلامه دخبریال وسله ګڼي اودهغوی په اند که خبریال په همغه لومړي سرکې په لوستونکو ددغې وسلې وارونه کړي،نوداسې وګڼئ چې جګړه یې بایلې بایللې ده

پیلامه ډېر ډولونه اودلیکلو ګڼې لارې لري.ښه لیډ یا پیلامه هغه ده چې خبرې کیسه یاپیښنه لوستونکو ته په زړه پورې کړي اوترپایه یې دهغې لوسستلو اواوریدلو ته وهڅوي

لومړی جمله دلیکنې دزړه حیثیت لري اونورې برخې دلومړی هغې هومره په زړه پورې نه وي لومړی جمله داوریدونکو دپام رااړولو کار ورکوي. دپیلامې لیکلو کومه نبغه اویوځینی لاره نشته.

يانې پيلامه ليکنه کومه ټاکلې او ځانګړې لاره نه لري .په ګڼو لارو ليکل کيدلی شي.دييلکې په توکه که د د ورځنيو پيښو په اړه بيلابيلو رسنيو ياخبريالانو خبرونه واورئ ؛نو د دورته پيښو په اړه به بيلابيلې خبري پيلامې واورئ . داځکه چې دخبريالانو دليکلو ډول ياليکلارې يوتر بله لږ او ډير توپيرونه سره لري لنډه داچې پيلامه ليکنه داسې کومه ځانګړې رياضيکي فرموله نه لري چې دکارولو پر مټ يې ټول خبريالان يو ځواب ياپايله تر لاسه کړي ؛بلکې يواځينی شی چې هر پيلامه ليکوال ښايي دپيلامې ليکولو پرمهال ورته پام وکړي هغه لنډيز ؛روښانتيا او په زړه پورې والی دی ؛ځکه همدا ديو ې ښې او دخلکو دپام وړپيلامې ځانګړنې دي.
دخبرونو له پلوه پيلامې په دوه ډوله ويشل شوې دي .دساده خبر پيلامه او دپيچلي خبر پيلامه

**۱–دساده خبر پيلامه:**

داهغه ډول پيلامه ده چې ديو ې يالږ ترلږه داسې خبرې پيښې په اړوند وي چې دزيان کچه يې لږه وي لکه يوه پيښه کې يو تن مړوي.يوتن لوټل شوی وي اوداسې نور.
بېلګه:
ناپيژندويه وسله وال غله نن ماښام دشهزاده سرای دصرافانو مشر ولوټه.
يا
دکابل-جلال اباد په لويه لاره ديوې ټرافيکي پيښې له امله دوه تنه مړه اودرې نور ژوبل شول.
تردغې پيلامې وروسته دپيښې تفصيل، دخلکو پيژندګلوي، دپيښې ځای،وخت، لامل اونور ښودل کيږي دساده خبر دپيلامې شپږډولونه دود دي
**څوک؟**
که دخبر اړونديا په پيښه کې ښکېل يا زيانمن شوی کس مشهور وي، نوپه پيلامه کې همغه راوړل کيږي.

**څه شي؟**
کله چې په پيښه کې دښکيلو کسانو په پرتله په خپله پيښه ډيره مهمه وي، نودهغې پيلامه داسې وي چې:

دځان سوځولو پېښې دیوې ځوانې مېرمنې ژوند واخیست

**چېرته؟**
کله چې دپېښې ځای مهم وي، نوپیلامه کې همغه راوړل کېږي.
بیلګه: د کرکټ بورډ ودانۍ مخې ته رزګونو کسانو له پاکستان څخه د کرکټ سیالۍ د بریا جشن کې ګډون وکړ.

**څه وخت؟**
که دخبرې پېښې دنورو خواو په پرتله وخت ډېر مهم وي، نو هغه په پیلامو کې راوړل کېدلی شي
لکه: په ټکنده غرمه وسلوالو غلو خلک ولوټل.
یا: په رڼا ورځ دښوونځې دوه تنه زدکوونکې ناپېژندویه کسانو وتښتولې.

**ولې؟**
دولې پیلامه تر ډېره دپېښې دلاملونو دمعلومولو هڅه کوي.
لکه: ماشوم تښتونکو دتېښتې هڅه کوله ځکه، نو دپولیسو په ډزو ووژل شو.
یا:
موټر چلونکی دماهیپر په کږ لیچونو کې پریشانۍ وړی وو، ځکه یې موټر بې لارې شو او ښکته ولویده.

**څه ډول؟**
دڅه ډول پیلامه تر ډېره دپېښې دپېښیدو ډول راسپړي.
بیلګه: ددووسلوالو ډلو دښتو ترمنځ درې تنه ولسي وګړي ووژل شول.

## ۲-پیچلې پیلامه

دا هغه پیلامې دي چې له یوې څخه دډېرو یا دداسې پېښې اړوند وي چې په هغه کې له یوې څخه ډېرې خواوې دپام وړوي.

ټولې پېښې يو ډول نه دي ځينې پېښې د خپل ډول له مخې تر نورو پېچلې وي پېچلې په دي مانا چې په هغه کې ډيرې خواوې دپام وړوي. لکه په يوه پېښه کې ګڼ کسان مري، کورونه اوودانۍ په کې نړيږي، هټۍ په کې سوځي، موټرونه په کې له منځه ځي اونور:

دا ډول پېښې د پېچلو خبرونو بيلګې دي. د دغه ډول پېښو پيلامې په دوه ډوله ليکل کيدلی شي.

**۱ـ لنډې پيلامې summary lead ؛**

**۲ـ دروښانه رول لرونکې پيلامې salient feature lead**

**۱ـ لنډه پیلامه summary lead**

په دې ډول پیلامو کې ټولې خواوې دارزښت له مخې په یوه پرګراف کې یو په بل پسې راوړل کېږې یانې ترټولو دزیات ارزښت لرونکې دمخه دمنځنی ارزښت لرونکې ورپسې اودلږ ارزښت لرونکې برخې په پای کې راوړل کېږي

**۲ـ دروښانه رول لرونکې پیلامې salient feature lead**

که دیوې پیښې یوه برخه تربلې ډیره مهمه وي،نوهغه مهال بیا پیلامه په دوه برخو وېشل کیږې

**۱ـ دروښانه رول پیلامه**

**۲ـ دوهمه پیلامه (په دې کې تریوه ډیر پاراګرافونه هم وي)**

بیلګه:

پخوانی ولسمشر حامد کرزي د پښتنو د امن جرګه دپاکستان او افغانستان دواړو هېوادنو په ګټه وبلله.

کرزي دبهرنیو هېوادونو دډیپلوماتانو غونډې ته دوینا پرمهال وویل روسیه باید افغانستان ته دتیرې جګړې پرمهال داوښتې زیان تاوان ورکړي.

## دپیلامو ډولونه:

پیلامې یا leads ګڼې بڼې اوډولونه لري لکه:

**پوښتونکې پیلامه Question lead**

داډول پیلامه عموماً لکه له نوم څخه یې چې څرګندیږي په یوې پوښتنې پیلیږي.

لکه:

دولسي خلکو دوژني لړۍ به ترڅو روانه وي؟

یا: دناامنیو پړه دچا په غاړه ده؟

**شالید لرونکې پیلامه Backgraound lead**

عموماً دغه ډول پیلامې دیوې پیښې په مخینه یا شالید پیلیږي.

لکه: دروغتیا وزیر درې کاله دمخه دروغتونونو د حالت ښه کولو ناروغانو ته ددرملو ورکول دخپلو کاري لومړیتوبونو په توګه یاد کړي وو،خولاهم ډیری ناروغان دپلازمېنې کابل دروغتونونو له اوسني حالت،دڅښناک داوبو او درملو د نه شتون څخه سرټکوي.

**په نقل قول ولاړه پیلامه Quotation lead**

دغه ډول پیلامې عموماً د مهمو کسانو په خبرو اوویناو پیلیږي.

لکه:

دهند سفارت مخته چاودنه دپاکستان دڅارګرې ادارې په سلا اولارښونه شوې ده.اسلام اباد تل په افغانستان کې دامنیت دګډوډولو هڅه کړې.

ولسمشر غني دخبریالانو یوې غونډې ته دوینا پرمهال وویل:

**پرتلیزه پیلامه contrast lead**

په دې ډول پیلامه کې پرتلنې له لارې شته توپیرونه په ډاګه کیږي.

بیلګه:

پاکستاني مشران له یوې خوا نړۍ والې ټولنې سره د ترهګرې پر وړاندې مبارزه کې ځان ژمن ګڼې او له بل لوري ترهګروته په خپله خاوره کې د فعالیت اوژوند کولو اسانتیاوې برابروي.

**نابېره لیډ off beat lead**

دا هغه لیډ دی چې په نابېره اوغیري عادي پیښنو لیکل کیږي لکه:

یوې وړې مرغۍ دیوې بوینګ الوتکې الوتنه له خنډ سره مخ کړه.

یا : پلازمېنه کابل کې دهندوانې چاودنې مرګ ژوبله اړولي ده.

دپیلامې له ډولونو وروسته دپیلامې لیکلو لارو چارو ته راځو. پیلامې لیکل یوه ستونزمنه چاره ده، ځکه دلنډې،روښانه،اړوندې اوپه زړه پورې پیلامې لیکل دهرخبریال دوس خبره نه ده.

ددغه ډول پیلامې لپاره دلیکوال تخلیقې وړتیا،ډیرغور،بیا بیا لیکلو اوزیار ګاللو ته اړتیا ده خبریال په ټول تللې اودنورو دخوښې پیلامې نشي لیکلی.ځینې خبریالان پیلامې ترټاکلې یا هغې اندازې چې ځومره ښایې اوږدې لیکي.ځینې بیا دمهمو اوارزښتناکو خبرو پرځای نااړونده اودلږ ارزښت لرونکې خبرې پیلامه کې راوړي.

یوشمیر بیا یا ډیره نیمګړې خبره کوي اویا ټوله خبره په پیلامه کې کوي چې داټول حالتونه دپیلامې په ښکلا، راښکون اوزړه پورې والي بد اغیز کوي.

## دپیلامې لیکلو لارښوونې:

پیلامه دخبر ډول ته په پام سره لیکل کیږي یانې که خبر دچا دمړینې، ناورین،دردونکې پیښې اویا کوم بل زیان په اړه وي نوپیلامه ښایې په غمناکو اوافسوسناکو کلیمو ولیکل شي څو دپیلامې انداز خواخوږي ته ورته واېسي.

همدارنګه که خبر ټوکې یا خندونکي بڼه ولري، نوپه پیلامه کې هم په خندا دوړاندې کولو هڅه کیږي. دمعیاري خبر په پیلامه کې هم معیاري کلیمې استعمالیږي،ځکه که دخوښۍ دخیر پیلامه په غمجن اویا برعکس دغمجن خبر پیلامه په مانیجن انداز ولیکل شي، نوښه اغیزنه لري.خبریال باید دپیلامې لیکلو پرمهال دخبر خصلت،طبیعت، ډول اوټولیز مزاج ته ځانګړی پام وکړي.

ددې ترڅنګ پیلامه باید تروسه په لږو کلیمو کې ولیکل شي،ځکه اوږدې کلیمې اوریدونکو غمګین کوي لامل یې دادی چې په ننني بوخت پېر کې اوریدونکي اولوستونکي داوږدو خبرو داوریدلو اولوستلو وخت اوزغم نه لري، نودپیلامو داوږدوالي دمخنیوي اودخبریالۍ مزاج ته په پام سره ښایي چې پیلامه کې زیاتی کړي کلیمې رانه وړل شي. دزیاتې کړو کلیمو ځیر په پیلامه کې دډیرو معلوماتو له راوړلو څخه هم ډډه پکار ده

په پیلامه کې دډیرو معلوماتو دراوړلو تاوان دادی چې اوریدونکې دپاتې خبر اوریدو ته نه تم کیږي،ځکه هغوي فکر کوي چې دکاریا لویې خبرې یې واوریدلې اودپاتې خبر دااوریدلو اړتیا نه محسوسوي.

ګونګې اوعمومې خبرې هم دپیلامې ارزښت ته تاوان پیښوي.

لکه:

دامنیت دټینګښت هلي ځلي روانې دي.
نشه یې توکې به له منځه یوړل شي
دکابل ښار دپاکولو چارې به په نږدې راتلونکي کې بشپړې شي.
داټولې ګونګې اوعمومي خبري دي، ځکه په دې کې نه ده څرګنده چې:
دامنیت دټینګښت هلي ځلي چا پیل کړي دي اوکوم ځای ته رسیدلي؟
نشه یې توکې به څوک او څنګه له منځه وړي؟
دکابل ښار دبشپړولو چارې څوک بشپړوي؟

دپورتنیو پوښتنو ځواب ته په پام سره دابایدپه ډاګه شي چې:

کیسه څه ده؟
کله پیل شوه؟
چاپیل کړې؟
اغیزیې څه دی؟ اوداسې نور.

په عددونو اوارقامو دپیلامې پیلول هم اوریدونکوته په زړه پورې نه ایسي،ځکه هغوی ارقام اوعددونه په یوځل اوریدلو سره نه شي درک کولی.

دبیلګې په توګه: اروپایې ټولنې دپوهني له وزارت سره پنځلس ملیونه نهه سوه زره اته سوه اونوي ډالره مرسته وکړه

پورتنی عدد اوریدونکې نه شي درک کولی ، نوددې پرځای پکار دی داسې وویل شي چې:

اروپايي ټولنې دپوهنې له وزارت سره نږدې شپاړس میلونه ډالره مرسته وکړه

لنډ ارقام اوعددونه اوریدونکي په اسانه درک کولی شي.عددونه اوارقام ښايي په عددنه، بلکې په توروولیکل شي.په تورو دعددونودلیکلو ګټه داده چې په هغه کې دتیروتنې مخه نیول کیږي اوویاند یا نیوز کاسټریې هم په اسانه لوستلی شي.

دپیلامې کلیمې ښایې داسې وي چې هیڅوک اوهیڅ لوری یې دځان سپکاوی ونه ګڼې.دیو چااخلاق هم باید ورخراب نه کړي، ځکه سپکونکې اوله ملنډو ډکې کلیمې دلیکنې او خپروندویه رسنۍ ارزښت کموي اودخلکو له پامه يې غورځوي.

نن سبا لوستونکي ډېرو بوختیاو له امله ډېرو اوږدو لیکنو اوپیلامو داوریدلو وخت اوزغم نه لري.هغوي په لږ وخت کې دزیاتو معلوماتو داوریدلو اولوستلو هیله من وي.

هغوي ډیرو لږو خبرونو ته تر پایه تم کیږي،خوپه زړه پورې ،لنډې اوروښانه پیلامې هغوي دخبر ترپایه له ځانه سره ساتلی شي، نودپیلامې لیکلو پرمهال دېته پام پکار دی. ددغه ډول پیلامو لیکل په هغو لاروتلل یا پوړیو ته پورته کیدل دي چې سیخې دبریا کاله ته تللې دي.

له زیار، پلټنې اوبیا بیا تمرین پرته دبریا کاله ته تګ په ویښه دخوب لیدل او یا په وچه لامبووهل دي.

لنډه داچې پیلامه لیکنه یوه په زړه پورې سیالي ده، هغه خبریالان ددغې سیالي ګټونکې دي چې دپیلامې لیکل ډیر ازمېښت اوتمرین کړي، ځکه دلنډو اوښو پیلامو لیکلو دوړتیا لرلو یوه ښه لاره دلیکلو بیابیا تمرین دی.دبیا بیا تمرین لاره چې څومره سترې کونکې ده، نوهومره ګټوره هم ده،ځکه له همدې لارې تاسودداسې پیلامو په لیکلو برلاسې کیږي چې لوستونکو زړونه پري خپلولی شئ اودنورو دزړونو خپلول ډېره لويه خبره ده.

دپیلامه لیکنې پرمهال باید دخبر ټولې خواوې په غور وکتل شي. څوپه ډاګه شي چې څه شی دپام یا ارزښت وړ دي؟

بیا دې همدغه دپام وړ یا ارزښتناکه برخه په لنډو اوڅرګندو ټکو کې ولیکي اوبیا خپلې لیکلې پیلامې په دې نیت سره پرتله کړي چې کومه پیلامه زیاته زړه راښکونکې اولنډه ده، نوداچاره به له

هغه سره ديوې ښې، لنډې او څرګندې پيلامې په لرلو کې لويه مرسته وکړي. ښه او په زړه پورې پيلامه بايد د دغو ښيګڼو لرونکې وي.

۱ـ پيلامه بايد د خبر د ټرټولو مهمو برخو لنډيز وي.

۲ـ پيلامه ښايي په اسانه او روښانه ټکو کې وليکل شي.

۳ـ پيلامه ښايې زياتيګړې او د لږ ارزښت لرونکې خبرې ونه لرې.

۴ـ د پيلامې د برخې معلومات ښايې ګنګ او عمومي خبرې نه وي.

۵ـ پيلامه ښايې تروسه وسه په وخت او ځای سره پيل نه شي.

۶ـ په پيلامه کې ښايې مخففات رانه وړل شي.

۷ـ په پيلامه کې ښايې د خلکو نوم،تخلص، لقب او دنده يوځای ونه ليکل شي.د ساري په توګه ډاکټر عبدالله عبدالله د سولې شورا پخوانی مشر

۸ـ د پيلامې په اوريدو سره ښايې اوريدونکو ته شک پيدا نه شي،ځکه د پيلامې په برخه کې لږ شک هم د هغې اغيز کموي.

۹ـ که د پيلامې په معلوماتو کې شک وي، نو بايد سرچينه يې وښودل شي.

۱۰ـ پيلامه بايد د خبر له متن سره تړاو او همغږي ولري.

يوه پيلامه ښايي لنډه او مانا لرونکې وي. له خبري کيسې سره تړاو ولري. که پيلامه ناڅرګنده وي، نو بيا هم اوريدونکي ترپايه نشي ساتلی.

بله عامه ستونزه داده چې ليکوال اکثره په پيلامه کې ډير معلومات ورکوي دا په زړه پورې،خووږ کارنه دی

د پيلامې د اوږدوالي په اړه د خبريالانو ترمنځ اختلاف دی.

ځينې وايې چې پيلامه بايد له يوې يادو جملو څخه اوږده نه وي.

ځيني وايي چې له ۳۰ څخه تر ۶۰ کليمو پورې بايد وي.
ځيني نور بيا وايي چې پيلامه بايد د خبر مهمې برخې څرګندې کړي.
معمول او اوږدوالی يې له ۲۰ څخه تر ۳۰ کليمو پورې وي.

خپل ليډ تر ليکلو وروسته د دغو پوښتنو په رڼا کې وګورئ که د دې پوښتنو په تول پوره وو، نو دامانا چې ليډ موپه زړه پورې دی او که نه، نوبيا پرې خواري وکړئ، بدلونونه په کې راولئ، معلومات پکې وړاندې وروسته کړئ اوداکار ترهغې وکړئ چې زړه مو پرې ډاډه شي. د دغه ډاډ د ترلاسه کولو لپاره خپل ليکلی ليډ د دغو پوښتنو په رڼا کې وارزوئ چې:

۱ـ ايا ليډ مو د خبر او موضوع اړوند دی؟

۲ـ مهم معلومات په کې راوړل شوي دي؟

۳ـ جملې يې لنډې، اسانه او روښانه دي؟

۴ـ د اوريدونکو اولوستونکو پام رااړولی او د ټول خبر لوستلو يا اوريدلو ته يې هڅولی شي؟

۵ـ د اوږدوالي اولنډوالي له پلوه څنګه دی يانې ډير اوږد يا ډير لنډ خونه دي؟

۶ـ زياتې ګړي او ګونګې کليمې خو نه لري؟

۷ـ د خپلمنځي تړاو له پلوه سم دی؟

۸ـ اندازې په زړه پورې دی؟

## متن:

له پيلامې وروسته د خبر متن وي. متن د خبري کيسې حقايق په بيلابيلو پاراګرافونو کې تشريح کوي.

متن دخبرې کيسې پيلامې ته په پام سره ليکل کېږي او هغه څو چې دخبري کيسې په پيلامه کې لوستي وي دهمغو او ځينو نورو اړوندو وخواودروښانه انځورو ړاندې کول متن دی.

متن دخبر موضوع اومالوماتو ته په پام سره ليکل کېږې يانې که دخبر معلومات اوموضوعات زيات وي. نوڅرګندده چې متن به يې هم اوږدوي اودساده پېښو اوموضوعاتو دخبر متن لنډوي يانې دساده خبرونو متن ټوله خبري پېښه يا کيسه په يو يا دووپراګرافونو کې بيانوي دخبرمتن دخبريا رپورټ بېلابېلې برخې تفصيلي بيانوي.

دمتن په پراګرافونو کې دخبرې کيسې موضوعات اومعلومات دارزښت له پلوه راوړل کيږي.

يانې دډېر ارزښت لرونکې موضوعات په پيل اودنسبتآ لږ ارزښت لرونکې خبرې ورسته راوړل کيږي. دخبر پيل بيلابيل موضوعات دمتن په برخه کې په بيلابيلو پراګرافونو کې راوړل کېږي.

دبيلګې په توګه:

سوداګرۍ وزارت له بهر څخه اتيا زره ټنه غنم هېواد ته راواريده وي. ددي تفصيل په پراګراف کې اوپه هېواد کې داوړو په بيو ددې اغيزې په دوهم جلا پراګراف کې راوړل کېږې.

دمتن ليکل دوه موخې لرې:

۱ـ دپيلامې تفصيل بيانوي.

۲ـ په پيلامه کې دراوړل شويو معلوماتو دتفصيل ترڅنګ دخبري کيسې اړوند نور په زړه پورې معلومات هم بيانوي.

## متن ليکل:

دمتن ليکلو پرمهال دې ته پام پکاردی چې:

۱ـ دساده خبرونو تفصیل ښایي پــــه یو دوو پاراګرافونو کې بیان شي. دتفصیل دبیانولو پرمهال ښایې دمضوعاتو ارزښت له پامه ونه لویږي. یاني معلومات ښایي دارزښت له پلوه یو په بل پسې راوړل شي.

۲ـ په متن کې ښایې معلومات پیلامې ته په پام سره تشریح شي. یانې کوم معلومات چې په پیلامه کې لومړی راغلي دي هغه دمخه او کوم چې وروسته دي هغه وروسته تشریح شي. داسې نه چې دپیلامې دپای موضوع دمتن په پیل او دپیل هغه یې دمتن په پای یا منځ کې تشریح شي.

۳ـ متن داسې هم برابریدلی شي چې تر پیلامې وروسته ترټولو مهمه موضوع تشریح شي اوبیا دبلي موضوع لنډه پیلامه راوړلی شي بیا وروسته همغه موضوع ورښانه شي همداسې ترپایه، خوداکار هغه مهال کیدلی شي چې دیو خبرې پېښې موضوعات سره توپیر ولري.

۴ـ په پیچلو ،اوږدو اودڅو برخو لرونکو خبرونو کې له هر دوه، درې یا څلورو پارګرافونو وروسته یوه پیلامه راوړل کېږي.

۵ـ دپېښو تفصیل اوږدوي، ځکه نود پېښو په خبرونو کې لومړی لنډه پیلامه او وروسته دمتن په برخه کې له پیل ترپای پورې ټوله خبري کیسه په ترتیب سره لیکل کېږي.

۶ـ دمتن جملې ښایې لنډې ، څرګندې او اړوندې وي،ځکه اوږدې نا اړوندې اوناڅرګندې جملې دخبر داوږدوالي اودکتونکو یا اوریدونکو دستړیا لامل کېږي.

۷ـ کومه رسنۍ چې خپلو اوریدونکو یا کتونکو ته کوم په زړه پورې خبرونه لري، نوخپلو ځینو خبریالانوته دنده ورکوي چې له نورو رسنیو څخه دغه ډول په زړه پورې خبرونه واخلي،خو کټ مټ یې نه راخلي، بلکې همغه خبر په یوه نوي انداز لیکي. دي کارته ګومارل شوی خبریال کوښښ کوي چې دموضوع په اړه یو څه نوي معلومات ترلاسه کړي.

بیا نوي معلومات اوپاتې خبر په خپلو کلیمو کې لیکې او که نوي اوزیاتیګړي معلومات تر لاسه نه کړی.نو همغه پېښه اومعلومات په نویو کلیمو کې په داسې انداز وړاندې کوي چې کتونکي اواوریدونکي پرې دنوي خبرګومان وکړي. دې ته Rewrite یا بیا لیکل وایي.

## دخبر شالید:

دخبر شالید له مخاطبینو سره دپېښې او موضوع په پېژندلو کې مرسته کوي، ځکه په شالید کې د پېښې تېر بهیر ته اشاره کېږي. اکثر خلک دګڼو لاملونو له امله ټول خبرونه نه اوري اویا یې داوریدلو فرصت او اسانتیا وې نه لري، نوددغې ستونزې دجبران په موخه دمهمو خبري پېښو دڅېړوولو پرمهال بنایي دهغې شالید ته هم پام وشي، څو اوریدونکي اولوستونکي دپېښې له تیر بهیر څخه هم خبر شي.

له شالید څخه چېرې ګټه اخیستل کېږي؟

۱. شالید دخبري کیسې په پایل کې راوړل کېږي. په یوه لنډه جمله کې دخبر په پیلامه کې هم ځایېدلی شي،البته دموضوع ارزښت ته په پام سره.

۲ـ شالید دخبر په متن کې هم راوړل کېږي.

لکه: معترضو نوماندانو نن بیا په پلازمېنه کابل کې لاریون وکړ او دپلازمیني په منځ کې غځېدلې لویه لاره یې وتړله، له تیرې یوې اونۍ راهیسې داڅووم ځل دی چې دوي دښار په بیلابیلو ځایونو او واټونو کې ورته لاریونونه کوي.

۳ـ کله کله دخبر په سرلیک کې هم راځي.لکه ولسي جرګې استازي بیا هم دخپل مشر په ټاکلو بریالي نه شول.

۴ـ کله کله دخبر په پیل یا پیلامه کې هم راځي.

لکه:دځانګړې محکمې نن وروسته ترهغې استعفا ورکړه چې ولسمشر ددغې محکمې دړنګولو ژمنه وکړه.

له پورتنیو بیلګو او څرګندونو څخه معلومېږي چې شالید دخبر په هره برخه کې کاریدلی شي.

## شالید باید څومره وي؟

شالید چې څومره لنډ او څرګند وي، نو هومره اغیزمن تمامیږي، اوږد شالید لوستونکي پاذابوي اواوسنی خبر هم یوډول ترخپلې شعاع لاندې راولي، نوله دې امله د اوږد شالید له راوړلو څخه ځان ساتل پکار دي. خوکه اوږد شالید راوړل اړین وي، نوبیا دجملو جوړښت ته پام پکار دی،

یاني لنډې جملې غوره دي.

### اخیستنې یا نقل قول او ډولونه یې

دا چې د خبر یو مهم هدف خلکو ته د یوې پیښې یا موضوع اړوند معلومات ورکول وي، نو دا معلومات له بیلابیلو سرچینو څخه راټولیږي. ډیر کله دا سرچینې د دولتي یا نادولتي ادارو مسولین، په پیښه کې ښکیل کسان، د موضوع اړوند کارپوهان او نور وي، چې خبریال ورسره مرکې کوي او د رپورټ لپاره خام مواد راټولوي.

حتمي نه ده چې خبریال ټول راټول کړي مواد په خپل رپورټ کې ځای کړي، ځکه کله ناکله ځینې سرچینې اضافي او یا نا اړینې خبرې هم کوي، نو خبریال ته په کار ده چې له کړو مرکو او معلوماتو څخه د خپل رپورټ لپاره کارنده او مهمو پوښتنو ته ځواب ویونکې برخې جلا کړي او اضافي مواد بیل کړي.

په خبرونو او رپورټونو کې شوې مرکې یا نقل قولونه عموما په دوه ډوله کارول کیږي:

۱– **مستقیم نقل قولونه:** د خبر یا رپورټ د موضوع له اړوندو مسولینو،عامو وګړو، شنونکو او کارپوهانو سره د شویو خبرو او مرکو کټ مټ رانغاړلو ته مستقیم نقل قول وایي. په یوه رپورټ یا خبر کې د دې ډول نقل قولونو راوړل له یوې خوا رپورټ ته ښکلا او تحرک وربښي،او له بلې خوا د پیښې د ریښتینولۍ لپاره هم اړین وي، تر څو مخاطبان لا ښه باوري شي.

خو د دا راز نقل قولونو د کارولو پر مهال خبریال باید د انډول او بې پرېتوب اصل له پامه ونه باسي، یانې د موضوع د ښکیلو غاړو غړونه په مساویانه توګه راواخلي، خبریال باید په دې ډول نقل قولونو کې له لاسوهنې ډډه وکړي، سربیره پر دې د استفادې څومروالي ته یې هم پام وکړي، ځکه یو نقل قول په خبر کې داسې مثال لري لکه په ډوډۍ کې مالګه.

په چاپي رسنیو کې دا ډول نقل قولونه په غبرګو قوسونو کې «» کې نیول کیږي، تر څو لوستونکي وپوهیږي چې دا د کومې سرچینې خبرې دي، خو په راډیو او ټلویزون کې بیا د سرچینې غږ خپریږي.

**۲–غیر مستقیم نقل قولونه :** کله کله خبریال د وخت د کمښت او یا هم د رپورټ د لیکنیو ځانګړنو له مخې اړ وي چې د شویو مرکو ځینې برخې، سرچینې ته په اشارې سره پخپلو الفاظو منعکس کړي. په خبر یا رپورټ کې له دې ډول نقل قولونو څخه تر ډېره هغه مهال استفاده کیږي چې سرچینې د موضوع په اړه داسې تفصیلي او تکراري خبرې کړې وي چې هو به هو په رپورټ کې د استفادې امکان ونه لري.

په خبر کې د غیر مستقیم نقل قولونو کارونه ځکه د ډېر دقت وړ وي چې د سرچینې خورې ورې خبرې باید په داسې بڼه راټولې شي چې په مانا کې یې بدلون نه وي راغلی.

کله کله په یو شمیر جنجالي مسایلو کې ځینې سرچینې د نوم نه ښودلو په شرط خبریال ته معلومات ورکوي، چې خبریال کولای شي د امانتدارۍ اصل ته په کتو سره د سرچینې ورکړي معلومات هم د غیر مستقیم نقل قول په بڼه راواخلي.

خبري سرچینې (Sources of News):

خبري سرچینې هغو ځایونو، رسنیو او مقامونو ته ویل کیږي، چې خبرونه او د خبرونو څرک ترې ترلاسه کیږي. دغه سرچینې په دې ډول دي:

1– خبري بیان (Press relies):

دولتي، نیمه دولتي او خپلواکې ادارې، سوداګریزې ادارې، سیاسي ګوندونه، د مزدورانو او زده کوونکو ټولنې او په ځانګړي ډول ځینې شخصیتونه کله کله اخباري بیانونه ورکوي. دغه بیانونه ورځپاڼو او نورو خبری رسنیو ته د پوستې، فکس له لارې اویا لاس په لاس استول کیږي. د ورځپاڼو دفترونو ته د ورځې ګڼ شمېر اخباري بیانونه راځي،ورځپاڼه او رسنۍ د خپلو خپرنیزو تګلارو په پام کې نیولو سره د هغو د خپریدو یا نه خپریدو پریکړه کوي. یو نیم ځل خبري رسنیو ته له اخباري بیانونو نه ډیر ښه خبرونه ترلاسه کیږي.

2– هوايي ډګرونه (Airbase)

مشهور ملي او نړیوال شخصیتونه زیاتره د الوتکو له لارې سفرونه کوي. خبریال کولای شي له دغو کسانو سره دخبرو اترو لپاره هوايي ډګر ته لاړشي، په دې توګه د شخصیتونو د تګ راتګ خبر هم ترلاسه کولای شي. په همدې لامل هوايي ډګر د خبر ترلاسه کولو یوه ښه سرچینه ده.

3– روغتون (Hospital)

روغتون دخبر ترلاسه کولو یوه غوره سرچینه ده. د پېښو د ټپیانو او مړو په اړه له روغتونونو نه ډیرښه معلومات ترلاسه کیږي.

4– د پولیسو حوزې (Police station)

د جګړو، شخوشولانګو، وژنو، غلا، لوټ او نورو جرمونو خبرونه د پولیسو له حوزو څخه ترلاسه کیږي.

دغه خبرونه ځانګړی ارزښت لري، ددغه ارزښت په پام کې نیولو سره رسنۍ د جرمونو دخبریال (Crime reporter) په نوم یو ځانګړی کس ټاکي. دوی له اړوندو حوزو څخه په ترلاسه شویو خبرونو بسنه نه کوي، بلکې په ځاني توګه پلټنه او څیړنه هم کوي.

دا خبره هم باید په پام کې ونیسو،چې د پولیسو د چارواکو خبرخوبه د هغوی پر ځاني ګټو نه را څرخي؟ لکه د هغوی پرمختګ (رتبه) یا دتنخوا لوړیدل او نور.

5– محکمې (Courts)

په ستره محکمه،مرافعه، تمیز او د ولایتونو په محکمو کې په زرګونو پېښې (Cases) اورېدل کېږي. د مهمو پېښو یا قضیو او پرېکړو خبر اخستنه اړینه ده، محکمه دد غه ډول خبرونو د ترلاسه کولو یوه غوره سرچینه ده. یونیم ځل له محکمو څخه ډېر مهم خبرونه ترلاسه کېږي. د ساري په ډول،په 1372 ل کال کې د پاکستان دسترې محکمې له خوا د نوازشریف حکومت د جوړېښت خبر، له محکمې څخه راخستل شوی او دنړۍ په ګڼ شمېر رسنیو کې خپور شوی و.

6- بانک او د بیو کنټرول ځایونه:

پانګوالي، د بیو لوړېدل او پرېوتل او دغسې نور خبرونه له بانکونو او دبیو له کنټرول ځایونو (بازار) څخه ترلاسه کېږي. د سوداګریزو چارو یا اقتصادي څانګو خبریالان د دغسې خبرونو په لټه کې وي.

7- ټولنیزې او فرهنګي غونډې:

په لویو ښارونو کې د ورځې ګڼ شمېر ټولنیزې او فرهنګي غونډې جوړېږي. په ټولیز ډول په غونډو کې د ګډون لپاره رسنیو ته تر وخت مخکې بلنلیکونه استول کېږي. دغسې غونډې په ټولیزه توګه د خبرموندنې یوه غوره سرچینه جوړېږي. د ورځپاڼو او اونیزو ډېری خبرونه پر همدغو غونډو راڅرخي.

8- د سیاسي ګوندونو دفترونه:

سیاسي (Political) خبرونه د سیاسي ګوندونو له دفترونو څخه ترلاسه کېږي. د ټاکنو په ورځو کې ددغو دفترونو ارزښت نور هم لوړېږي. خبریالان د خبرونو ترلاسه کولو لپاره د سیاسي ګوندونو له دفترونو سره نږدې اړیکې ساتي. د سیاستوالو تګ راتګ، بیانونه، د هغوی د بوختیاوو او سیاسي جوړجاړیو خبرونه دسیاسي ګوندونو له دفترونو څخه ترلاسه کېږي.

9- څار او اورېدنګ(Monitoring)

د ورځپاڼو اورسنیو په دفترونو کې د څار اومانیټورینګ څانګه د نړۍ د راډیو ټلویزیونونو دسترو سټیشنونو خبرونه ثبتوي. ورځپاڼې د خپلو اړتیاوو او تګلارو پر بنسټ خبرونه د راډیو ټلویزیوني (خبرونو) د ثبت له لارې ترلاسه کوي.

10– نړیجال (انټرنېټ)

نړیجال (انټرنیټ) په اوسني پېر کي د خبرموندنې یوه غوره سرچینه ده. د نړۍ د ګوټ ګوټ نوي او تازه خبرونه هر وخت په نړیجال کې موندلی شي.

11– خبري اژانسونه (News Agencies)

خبري اژانسونه هغه خبري اداري دي، چې په خپلو ځانګړو تګلارو سره خبرونه مومي او د ورځپاڼو او راډیو ټلویزیونونو لپاره یې چمتو کوي. دغه اژانسونه پر خبرونو سربېره انځورونه (تصویرونه) هم برابروي. دغو ادارو تر 1369 ل کال پورې خپل خبرونه په ټیلي پرېنټر استول،خوورو سته دفاکس او بریښنالیک په جوړېدو سره د خبر استولو چاره هم تیزه او اسانه شوه. خبري اژانسونه اوس خبري رسنیو ته خپل خبرونه د فاکس او برېښنالیک له لارې استوي.

12– سفارتونه (Ambassys)

د نوروهېوادونو سفارتونه هم دخبرموندنې ارزښتناکې سرچینې دي. دغه سفارتونه د خپلو هېوادونو د ملي ورځو دنمانځنې لپاره غونډې جوړوي، خبریالان په دغو غونډو کې د ګډون له لارې غوره خبرونه ترلاسه کوي.

13– خبري غونډه او مرکه (Press conference and interview)

کله کله لوړپوړي چارواکي او نور شخصیتونه پر یوې ځانګړې سکالو (موضوع) د رڼا اچولو لپاره خبري غونډې جوړوي. دغه مهال خبریالان د غونډې له جوړوونکي او نورو اړوندو کسانو څخه پوښتنې او مرکې هم کولای شي. د مهمو کسانو مرکه اخستل د خبر موندنې یوه غوره سرچینه ده.

14– ولسي جرګه ( Parliament)

دولسي جرګې او مشرانو جرګې (Senat) ناستې هم د خبرموندنې غوره سرچینې ګڼل کېږي. د هغو د خبر جوړونې او ریوټ لپاره تکړه او تجربه وال پارلماني خبریالان استول کېږي. د ولسي جرګې خبر اخستل (Reporting) یوه ځانګړې مهارت ته اړتیا لري. مهم او ارزښتناک خبرونه هم له همدې لارې لاس ته راځي. د قانون جوړونې خبرونه هم د جرګو دناستو له لارې ترلاسه کېږي.

خبري اژانسونه(news agencies)يې بولي.

(يو خبري اژانس دخبريالانو له لوري رامنځته شوې اداره ده چې ورځپاڼو ،راډيو ،تلويزيون او مجلو ته دخپرولو په موخه دخبرونو اورپورټونو راکړه ورکړه پياوړې کوي.داچارې خبري سرويس بولي.

خبري اژانسونه دجوړښت اوډول له مخې سره توپير لري. په لويه کې په نړۍ والواوکورنيو اژانسونو وېشل کيږي. نړيوال اژانسونه هغه دي چې له هېواده دباندې په ګڼو هېوادونو کې استازي اوخبريالان لري اودخپلو امکاناتو له مخې نړدې هرې مهمې پېښې ته ځان رسوي.دغه نړيوال خبرې اژانس کوښښ کوي چې دنړۍ دترټولو مهمو پېښو په اړه دلومړي لاس معلومات راټول کړي،ځکه دغه ډول معلومات ګڼ مينه وال اوپيريدونکي لري چې له دې امله يې دپلور بازار تود دی. دارزښتناکو موادو دپېرودلو له مخې دغه اژانسونه دمالي ګټې ترڅنګ مانيزه ګټه هم کوي. دهغوی حيثيت باوراوشهرت ورسره لوړيږي.

دهمدغو مالي اومانيزو ګټو دلاسته راوړلو په سر داژانسونو ترمنځ دمعلوماتو دژر ترلاسه کولو يوه سيالي روانه ده. دغې سيالي دبېلا بېلو خبري اژانسونو کارونه چټک کړي، ځکه هر خبري اژانس له بل خبري اژانس څخه دمختـه کيدو په موخه کوښښ کوي چې خبري پېښو ته ژر ځان ورسوي.ارزښتناک اودلومړي لاس معلومات ترلاسه کړي.

نړيوال خبري اژانسونه (International News Agencies)

پر 1825کال د فرانسې يوه زلمي هلک چارلس هافاس په خپل نوم د اروپا د لومړني خبري اژانس بنسټ کېښود. هافاس په پيل کې د خبر رسونې لپاره له کوترو کار واخيست، خو کله چې د تاري پيغام رسونې نظام جوړ شو له دغه نظام نه يې هم ګټه واخيسته. دغې ادارې تر دويمې نړيوالې جګړې پورې په همدغه نوم کار کاوه، خو وروسته يې نوم بدل شو او د فرانس پريس (AFP) په نامه سره و نومول شو. فرانس پريس خبري اژانس نن د نړۍ په سترو او مشهورو خبري اژانسونو کې شميرل کيږي.

د نړۍ دویم مشهور خبري اژانس رویټر دی، چې د یوه جرمني وګړي (پال جولیس رایټر) له خوا جوړ شوی دی. رایټر د بریټانیې تابعیت واخست او پر 1858 کال یې دغه اداره جوړه کړه. تر دې لږ څه مخکې پر 1849 کال په جرمني کې د وولف په نامه یو بل خبري اژانس هم جوړ شوی و، چې بنسټګرېې (برنارډ ولف) نومیده. پر 1853 کال په ایټالیا کې د (سټیفاني) په نوم د ایټالیا د لومړني خبري اژانس بنسټ کېښودل شو. همدا راز پر 1860 کال استرالیا هم د خبر چمتوکولو یو خبري اژانس جوړ کړ. په امریکا کې لومړنی خبري اژانس (تاربر نیوز ایسوسي ایشن) و چې پر 1850 کال یې بنسټ وموند. وروسته پر 1909 کال د International News Service په نامه یوه بله اداره هم جوړه شوه. پر 1917 کال په روسیه کې د (تاس) خبري اژانس بنسټ کېښودل شو. په ترکیه کې پر 1990 کال د کمال اتاترک په هڅویو دولتي خبري اژانس جوړ شو. اوسمهال په نړۍ کې د څلورو سترو اژانسونو واکمني ده. دغه اژانسونه فرانس پرېس(AFP)، رویټرز، اسوسي ایټیډپرېس (AP) او یو نایټډپرېس انټرنشنل (UPI) دي. د نړۍ مهمې خبري رسنۍ خپل خبرونه له دغو ادارو څخه ترلاسه کوي. زموږ دهېواد په ګډون دنړۍ د ګڼ شمیر هېوادونو اژانسونو له دغو ادارو سره د خبرونو د تبادلې تړونونه کړي دي. نړیوال سیاست او ژوند و ژواک یې مهمې سکالوګانې دي.

په لاندینیو کرښو کې به پردغو ادارو یو څه وغږېږو :

1- فرانس پرېس اژانس(AFP):

دغه اداره پر 1944 کال د فرانسې تر خپلواکۍ وروسته د فرانسې په پلازمېنه (پاریس) کې پرانستل شوه. هافاس د هټلر د پیرنبنې په توګه له منځه لاړ او منځی (مرکز) یې فرانس پرېس ته ورکړل شو. فرانس پرېس په پیل کې د حکومت په لاس کې و، خو وروسته خپلواک کړای شو. د اژانس دفتر په پاریس کې دی او تر 2000 زیات کسان پکې پر کاربوخت دي. پردې سر بیره په ګڼ شمېر هېوادونو او مشهورو ښارونو کې استازي او خبریالان هم لري. دغه خبري اژانس په فرانسوي، انګلیسي، جرمني، عربي او ځینو نورو ژبو خبرونه برابروي او د نړۍ ګڼ شمېر مشهورې خبري رسنۍ یې په پېرونکو کې شمېرل کېږي. فرانس پریس د خپل کړنلار له مخې یوه خپلواکه او ناپییلې اداره ده، خو د فرانسې د دولت اغیز پرې له ورایه ښکاري.

2- رویټر (Reuters):

دغه اداره په برېتانیا کې د یوه جرمني وګړي (پال جولیس رایټرز) او د هغه د میرمنې له خوا پیل شوه. د رایټر ترمړینې وروسته د ادارې د مشرتابه چارې د نوموړي زوی (هوبرټ) ته وسپارل شوې. هوبرټ د خپلې ادارې کړی د نړۍ ګوټ ګوټ ته پراخه کړه او پر دې وتوانید، چې د پلار میراث په ښه توګه سمبال کړي. د رویټرزخبري اژانس مرکزي دفترپه لندن کې دی او شتمني (ملکیت)یې د برېتانیې ،استرالیا او نیوزیلنډ له ورځپاڼو سره ده.

رویټرز د نړۍ په سترو او نوموتو خبري اژانسونو کې شمېرل کېږي. د نړۍ په سترو او مهمو هېوادونو کې ځانګړي خبریالان لري. په زرګونو ورځپاڼې او خبري رسنۍ یې له خبرونو څخه ګټه اخلي،خبریالان یې دنړۍ له ګوټ ګوټ نه مرکزي دفترونوته خبرونه استوي او هلته له اوډون او سمون وروسته بېلابېلو خبري رسنیو ته استول کېږي.

یونایټډ پرېس انټرنشنل (UPI):

د یونایټډپریس انټرنشنل لومړنی نوم یونایټډپریس و، خو کله یې،چې پر نړیوالو خبرونو لاس پورې کړ نوم یې هم نړیوال (یونایټډ پرس انټرنشنل) شو.

دغه اژانس دیوې امریکایي ورځپاڼې له خوا پیل شو او ډېر زریې د امریکا نوموتی خبري اژانس(اسوسي ایټیډپرس)له ګوابښ سره مخ کړ. اوسمهال دامریکا په بېلابېلو ښارونو کې تر سلو زیات دفترونه لري، چې ملي خبرونه چمتو کوي. پر دې سر بېره د نړۍ په بېلابېلو ښارونو کې 112 نور خبریالان هم لري،چې د نړیوالو خبرونو د چمتو کولو دنده پر غاړه لري. د UPI مرکزي دفتر په نیویارک کې دی او خپل ټول کارونه پرسوداګریزو بنسټونو تر سره کوي. د چوپړ چارو له لارې د پیسو ترلاسه کول د UPI یوازینۍ موخه ده.

اسوسي ایټېډ پرس (AP):

(AP) د امریکا دولتي خبري اژانس دی او مرکزي دفتر یې په نیویارک کې دی. ګڼ شمېر خلک چنده ورکوي، یوازې د امریکا په متحدو ایالاتو کې 1500 ورځپاڼې او 3500 خپرنیزې ادارې د اسوسي ایټېډپرېس غړیتوب لري. د نړۍ په ټولو سترو ښارونو کې یې

دفترونه پرانستي اوورځني خبرونه وراستوي. دغه اداره په انګليسي ،فرانسوي،جرمني،سپانوي او ځينو نورو ژبو خبرونه تياروي او د نويو او پرمختللو وسايلو په وسيله يې خپلو پېرونکو ته وراستوي.

د AP مشرتابه (جنرال منيجر) وي،چې د خبرونو د تياري او خپراوي دنده پر مخ بيايي. دغې اداري دنړۍ له سترو خبري اژانسونو سره د خبرونو د تبادلې تړونونه کړي،همدا لامل دی،چې په نړيوالو خبري اژانسونو کې ترټولو ډېر خبرونه له اسوسي ايټډپرس سره وي. AP خپلو خبريالانو ته د خبر چمتو کولو درې تګلارې ټاکلې دي:

د مالوماتو رښتينتوب، بيړه او بې پريتوب.

اسوسي ايټډ پرس که څه هم د بې پريتوب غاړه کوي، خو خبرونه يې د امريکا اود امريکا د دولت د پاليسيو ملاتړ څرګندوي.

پر پورتنيو څلورواړو نړيوالو ادارو د لويديزوالو واکمني ده.هغوی پرنورو ارزښتونو سربېره، د اسلام او مسلمانانو مخالفت ته هم ارزښت ورکوي، همد الامل دی، چې په خبرونو کې يې د اسلام دښمنۍ څرک له ورايه ترسترګو کېږي، خو له هغوی سره د مقابلې لپاره د مسلمانانو يو معياري خبري اژانس نه ترسترګو کيږي.

ملي خبري اژانسونه

دخبري اژانسونو دوهم ډول په کور دننه يا کورني خبري اژانسونه دي چې ځيني يې دولتي او ځيني يې نادولتي يا ازاد اژانسونه وي.

لکه: باختر اژانس چې دافغانستان دولتي خبري اژانس دی. دغه اژانس داطلاعاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کې کار کوي. ځينې بيا غيري دولتي يا ازاد خبري اژانسونه وي. لکه پژواک يا وخت خبري اژانس چې بيلابېلو رسنيو ته خبرونه برابروي.

خبري اژانسونه کوښښ کوي چې په بیلابېلو سیمو کې تکړه خبریالان دخبري پېښنو دڅارلو لپاره وګوماري.عموماً اژانسونه اوخبري رسنۍ دخبري پېښنو اومعلوماتو دراټولو لپاره دسیمو یا دموضوعاتو اوڅانګو دویش له پلوه خبریالان ګوماري.

دسیمو له پلوه دخبریالانو وېش دامانا چې دهرې سیمې لپاره یوخبریال ټاکي. لکه دکندهار،خوست،پکتیا اوبلې هرې سیمي لپاره یویو تن استازی ټاکي اوددغو استازو دنده په سیمو کې درامنځته کیدونکو خبري پېښنو څارنه اوپه اړه یې خپل خبري اژانس یا خبري رسنۍ ته معلومات ورکول دي.

دموضوعاتو وېش بیا داسې وي چې دهرې موضوع لپاره بېلا بېل کسان ټاکي.لکه دلوبو خبریال یواځې مهمې لوبې اوسیالۍ څاري اوخبرونه یې برابروي .پارلماني خبریال دپارلمان دغونډو اوپریکړو په اړه معلومات راغونډوي همداسې دهرې څانګې خبریال دخپلې اړوندې څانګې دپېښنو بهیر څاري. دغه کسان ددوی دشالید ،زدکړواو وړتیاو له پلوه وېشل کېږي. یانې دسیا سي راپورنو لپاره داسې څوک ګوماري چې تر ډیره له سیاست، سیاسي مسایلو له ټرمینالوژۍ سره بلد وي همداسې دلوبو په اړه خبرونه او رپورټونو دبرابرولو لپاره له لوبو سره بلد خبریال په دنده ګوماري.

خبري اژانسونه دخپلو امکاناتو له مخې له خپلو خبریالانو څخه دټیلفون، پوسټ خونې ،بریښنالیک،فکس، موټرونو اونورو له لارې خبرونه اومعلومات ترلاسه کوي. خبري اژانسونه اوخبري رسنۍ له خپلو خبریالانو څخه ترلاسه شوي معلومات رالنډوي. ځینې یې په خبري بڼه برابروي یانې تیار رپورټونه په نورو رسنیو پلوري اوځینې یې بیا کټ مټ ورسپاري چې په اصطلاح خام مواد یې بولي.

خبري اژانسونه دپراخ باور له پلوه هم یو له بله توپیر لري.عموماً هغه اژانسونه چې پېښنې په ناپییلې توګه څاري اوخبري کوي دهغو باور زیات دی.

کله چې یوڅوک له کوم امتیاز پرته وړیا اوپه خپله خوښه دې ته تیار یږي چې تاسو ته معلومات درکړي،نو دهغه دمعلوماتو تراخیستلو اوخپرولو دمخه وګورئ،چې هغه څه کاره دی؟

معلومات یې څومره ربښتینې او بې پلوه دي؟

دکومې موخې او اړتیا له پلوه تاسو ته معلومات درکوي؟

په دې برخه کې، ځکه ډیر پام پکاردی چې رسنیو ته دمعلوماتو برابرونکی بېلابېلې موخې لري.

لکه:

۱. ځینې کسان یوازې دځان دمشهورولو په موخه رسنیو ته معلومات ورکوي.که څه هم دا کارېې زیان نه دی.خو دابايد ثابته وي چې دهغه معلومات څومره کره اوپوره دي.

۲.ځینې کسان یوازې دا غواړي چې نوم یې له رسنۍ خپور شي.

۳.ځینې غواړي چې معلومات اوپیښې دځان په ګټه تعبیر کړي، چې دا خطرناک حالت دی.

په هر حال په دې ټولو حالتونو کې خبریال ته ښه غور او دقت په کار دی.

(هغو معلوماتو ته چې په لاس درځي په انتقادي نظر وګورئ پوښتنه وکړئ،چې:

ولې دا سرچینه غواړي ټاکلي معلومات ښکاره کړي؟

ایا دا کس غواړي تاسې تر تاثیر لاندې راولي؟

تاسې تېرباسي؟ ایا غواړي له تاسې نه په کاراخیستلو خپل سیال ته دمطبوعاتو له لارې زیان ورسوي؟

دخبریال ښې اوپراخې اړیکې دمعلوماتو په راټولولو کې له نوموړي سره ښه مرسته کولی شي، ځکه خبریالي کب نیونې ته ورته دی. لکه کب نیونکی چې څومره جال خپور کړي، نوهومره دډیرو کبانو دنښتلو اونیولو چانس زیات وي.

همداسې چې څومره دخبریال اړیکې پراخې وي،نو هومره له ډیرو پیښو پرمهال خبرورکوي.دغه وړکسان بولي.ددغه وړکسانو دپتو،ټیلفونو شمیرو اونورو معلوماتو لرل دمعلوماتو دراټولولو پرمهال له خبریالانو سره ښه مرسته کولی شي.ځکه دوی دخپلو

لېستونو له مخې له اړوندو کسانو سره په اسانۍ اړيکه کولی اومعلومات ځينې غوښتلی شي،خو له هغو څخه دمعلوماتو ترلاسه کول هم ځانګړی مهارت غواړي اوخبريال ته ښايي چې دغه مهارت خپل کړي.

ياني له هغوی سره دې ښې اړيکې وپالي. ددوی حالت دې درک کړي.دحالت درک کول دامانا چې په مناسب وخت کې دې ورسره اړيکه وکړي، ځکه ډېر کله خلک دنورو په وړاندې اويا درسمې دندې پرمهال دمعلوماتو له ورکړي څخه ډډه کوي، نوکه ارتباطې کس په کومه غونډه يا دخلکو په منځ کې وو، دهغه دپوښتلو هڅه مه کوئ.ځکه کيدای شي هغه درته دکومې ناڅرګندې وېرې له امله چورلټ منکر شي.يا دمعلوماتو له ورکولو ډډه وکړي.همدارنګه له ارتباطې کسانو سره دخواخوږي ښودلو لپاره ورته ټيلفونونه وکړئ.که ورتګ اسانه ويورشئ يوڅه وخت ورسره تير کړئ دخپلي خوښې په موضوعاتو ورسره وغږېږئ دملګرتيا اوخواخوږۍ احساس ورکړئ.ددې وړ چلند ګټه داده چې نوموړي په راتلونکې کې هم درته ګټور معلومات اوخبرونه درکوي.

ديو ارتباطي کس يا يوې سرچينې په معلوماتو ډاډمه کوئ چې څومره شونې وي،نوهومره ډيره پوښتنه اوپلټنه وکړئ، ځکه کيدای شي ديو کس يا سرچينې خبره ناسمه اويا هم يو اخيزه وي.

په دې هم مه ډاډه کېږئ چې څومره سرچينو يوه خبره کړې يا دپېښې په اړه دڅو سرچينو معلومات يو ډول دي.

خبري اژانسونه هم کيدای شي داعتبار وړ نه وي په دي مه تيروځئ، چې که درې يا څلور اژانسونه عين خبرورکړي.ضرورنه ده چې ددي مانا دی داوي چې خبرپه خپلواکه توګه تاييد شوی،کيداشي يو خبريال وي چې ټولو اژانسو نو ته خبرونه ورکړي. هڅه وکړئ دخبر اصلي سرچينه معلومه کړئ او خپلواک پخلی يې ترلاسه کړئ په تيره که تاسې دخبر موضوع ناندريزه وي هغو مره نظرونه يې په اړه غونډ کړئ چې شوني وي.که ممکنه وي دپخوانيو معلوماتو لپاره دارشيف دوسي وګورئ. مخالف نظر واخلئ اودپلټنې په توګه يې وکاروئ له کوم بې پرې کس سره دخبرو هڅه وکړئ ، خوا مه نيسئ خو وڅيړئ چې داټول څه مانا لري.

ځيني معلوماتې سرچينې يا کسان دنوم دنه ښودلو په شرط معلومات ورکوي، خوددغو کسانو دې شرط ته په اسانه غاړه مه ږدئ که مو چاره اوبله لاره نه لرله ، نوورسره وې منئ، خو بيا به تر پايه په خپله ژمنه ودريږئ دا دليل هم معلوم کړئ چې نوموړی کس درته دکوم لامل له مخې دنوم په نه ښودلو ټينګار کوي.ايا معلومات يې ناسم دي؟ ايا ډارن دی؟ ايا نيت يې خراب دی؟ايا دځه شي دپټولو نيت لري؟

که معلومات سم وي اونوموړی دنوم له ښودلو سره دوپري يا کوم بل لامل له مخې مينه نه لري، نومعلومات يې وکاروئ، خو ددغه وړ کسانو اوسرچينو غوښتنو ته پام کوئ، ځکه که ددوي دغوښتنې خلاف کاروکړئ نو په راتلونکي کې درسره مرسته نه کوي.کوښښ وکړئ چې دمعلوماتې کسانو اوسرچينو باور اوخونديتوب ته پام وکړئ ان که ترفشار لاندې هم راتللئ، نو خپله معلوماتي سرچينه چاته دخپلي کړې ژمنې له مخې مه ورښيئ.

تاسې مجبورياست دخپلي منبع ساتنه وکړئ ، ان که که نور خلک دهغه /هغې دافشا کولو لپاره درباندې فشار هم راولي. په برتانيا کې دييلګې په توګه دژورناليستانو دملي اتحاد يې دچلند اصول وايي: يوخبريال بايد دمعلوماتو پټې سرچينې خوندي وساتي اودمطبوعاتي شکايتونو دکمېسون دچلند داصولو له مخې دادخبريالانو اخلاقي دنده ده چې دمعلوماتوپټې سرچيني خوندې وساتي.

له خبري اومعلوماتې سرچينو سره سره په اسانه دخوندې او پټ ساتلو ژمنې مه کوئ، ځکه دا مسله کله نا کله نادريزه اوجنجالي کېږي ممکن تاسو دنه ښودلو ژمني له مخې يو خبر خپور کړي

دولت يا پوليس تاسو محکمې ته وروغواړي اود سرچينې دښودلو غوښتنه درڅخه وکړي،نو دغه مهال تاسو په يوه دوه لارې کې ايسارپاتې کيږئ. يوې خواته دژمنې خبره ده اوبل لورته د محکمې امر دی، نومخکې له دې چې له يوې سرچينې سره ژمنه وکړئ، نودهغې په پايلو فکر وکړئ که يې پايله درته جنجالي نه ايسېدله، نوژمنه ورسره وکړئ او که يې پايله جنجالي وه، نو بياهم دوه لارې لري يوه دا چې زندان ته دتلو سخته پرځان وګالئ اوبله دا چې دهغه خبر له خپرولو تېر شئ داکوم ټاکلي اصول نه لري، بلکې دخبريال په دريځ اوپريکړې پورې اړه لري

دګډو سرچینو په منځ کې تر ټولو باوري او رښتینې سرچینې وکاروئ. کوښښ وکړئ له هغو سرچینو څخه دپېښنو په اړه معلومات او خبرونه ترلاسه کړئ چې دغه ځانګړنې ولري.

ځانګړي توب (Expertise) ځواک power اغیز effectiveness باور trustworthiness انصاف ،سموالی ،درناوی، رښتیا ویل او بشپړ ویل تل دنورو کسانو او سرچینو معلوماتو ته مه کینئ داکار مولټ روړدي کوي. بله ستونزه داده چې رسنۍ به مو کتونکو او اوریدونکو ته له نورو ډېرو رسنیو سره ورته او یو شان واېسیږي،ځکه د اژانسونو خبرونه ګڼې رسنۍ خپروي او ښکاره ده چې داژانسونو خبرونه سره ورته وي، نو کوښښ وکړئ چې په خپله په پېښنو او خبرونو پسې وګرځي. دخپلو سترګو لیدلې پېښې، حقایق او معلومات تر نورو په کراتو غوره او ارزښتناک وي.

دخبري پېښنو په اړه دخلکو دخبرو یا نظر اخیستتلو پرمهال ممکن دوه ډوله خلکو سره مخ شئ

یو هغه وي چې دپېښې یا یوې موضوع په اړه نېغې او په زړه پورې څرګندونې کوي چې دی ته نیغې خبرې یا مستقیم نقل قول وایي نیغې خبرې په قوسونو کې لیکل کېږي. لکه ملالۍ وایي:

(دشپې ناوخته زموږ دکلا ور وټکېده پلارمې ور ووت، د وره له هغې غاړې ورته وویل شول امنیتي چارواکي یوو.غواړو ستاسو کور وپلټو پلارمې ور ورته بیرته کړ دپولیسو په جامو کې ځوتنه وسلوال زموږ کور ته راننوتل،موږ ټول یې یوې خونې ته کړو. بیا یو تن دخپل ټوپک شپیلۍ موږ ته مخامخ کړه ګوته په ماشه په وره کې راودرید اوویل یې که حرکت مو وکړ، غلبیل غلبیل به مو کړم. نورو دکور پلټنه پیل کړه دکالیو بکسونه یې مات کړل. ټول قیمتي توکي اوروپۍ یې له ځانه سره واخیستلې. په موږ پسې یې دخونې ورله دباندې لوري کلک کړ او په خپله مخه لاړل.)

نیغې ویناوې روښانه لنډې او څرګندې وي، ځکه یې نو په خپل رپورټ کې کټ مټ کارولی شئ.

خو غیر مستقیمې ویناوې او نظرونه بیا په دي بڼه نشئ کارولی.ځکه هغه ویناوې او نظرونه منظم، دپېښې اړوند، لنډ او څرګند نه وي، نو عموماً دغه مهال کولی شئ چې دغه وړ نظرونه په خپلو ټکو او کلیمو کې رالنډ او روښانه کړئ. که دغه ډول ویناوې کټ مټ خپري کړي، نه به دهغو دخپرولو په اړتیا او ټراو پوه شئ ، نو ددغه وړ ستونزو دمخنیوي په موخه دیوې پېښې یا موضوع په اړه دتر ټولو لوړ پوړو چارواکو یا ډیرو نږدي او اړوندو کسانو خبري راواخلئ.ځکه دا وړ کسان په پېښو ښه خبروي.روښانه درته غږیږي.خبر اوراپورته مو پیا وړتیا ورکوي، خو که لوړپوړو خلکو له خبرو کولو ډډه کوله اویایې

په لوي لاس معلومات پټول اوعمومې خبرې یې درته کولې، نو بیا عامو خلکو ته مخه کړئ ځکه دمهمو خلکو تر ګونګو او عمومې خبرو دعادي خلکو څرګندې خبرې ډیر ارزښت لري، خو دعامو خلکو دنقل قول داخیستلو پرمهال مو پام وي چې خبرې یې پارونکې یا چاته سپکاوی نه وي، ځکه دغه وړ خبرې نااندرۍ اوشخړي راپورته کوي کله هم خپله رسنۍ دنورو دسپکاوي او شخړو لپاره مه کاروئ په دې چې داکار مو ګریوان ته دنورو لاسونو در اوږدوالی اوغځولی شي.

کله کله چارواکي داصل خبرې پرځای دځان ستاینه کوي.حپلي وړي کړنې ډېرې لویوي. لویې خبرې کوي.ځان ترټولو غټ ښیي اویاهم په نورو تورونه لګوي، مګر دوی له رسنیو څخه دغه وړ معلوماتو دخپرولو په ګټه او تاوان نه پوهیږي.تاسو یې وپوهوئ که دچارواکو خبرې درته ډېرې ناندریزې اویایې تر خپرولو وروسته پایلې ناسمې واېسېدلې، نو بیا یې ورته واورئ اود خپرولو لپاره دهغه خوښه او اجازه وغواړئ، حو وروسته انکاري نه شي اویا ونه وایي چې دهغه موخه بل څه وه اوتاسو یې خبرې ناسمې تعبیر کړي او اړولې دي. ددې ترڅنګ دهغه دخبرو غږیزه کاپې هم له ځانه سره خوندي کړئ، څو داړتیا پرمهال هغه دځان دسپیناوي اوسند په توګه وړاندې کړای شئ

دخلکو دنظر او څرګندونو داخیستلو پرمهال دغو لاربنوونو ته پام وکړئ

۱. کوښښ وکړئ چې دمتعددو او بېلابېلو کسانو سره تماس ونیسئ.ځوان، دمنځني عمر خاوند، زوړ،سړی،ښځه بېوزلی، شتمن، لوستی، لږلوستی، بې سواده او نور.

۲. یا، که دراپور موضوع تقاضا کوي، دیوې خاصې ډلې دغړو سره مرکه وکړئ. لکه محصلان، پرستاران، موټرچلوونکي اونور.

۳.هغو کسانو سره مرکه وکړئ چې دځواب دورکولو فرصت لري.

۴ـ خلکو سره دمرکې په وخت کې ارامه، مودب اوسئ او تبسم کوئ.

۵ـ ځان ور وپېژنئ او توضیح ورکړئ چې هدف مو څه دی؟

۶ـ که چا نه غوښتل مرکې کې برخه واخلئ فشار وربانذې مه راوړئ. ورڅخه مننه وکړئ اوپه بل کس پسئ ورشئ.

۷.پوښتنه مو په دقت سره تنظیم کړئ ، ستاسو خبرې به دداسې کسانو سره وي چې دمرکې لپاره چمتو نه دي. پوښتنې موباید ساده، روښانه اوپرانیستې وي. نه داچې په (هو) یا (نه) سره ځواب شي.

۸.دټولو څخه هماغه یوه پوښتنه وکړئ،که نه نو ځوابونه به یې یوبل سره اړیکې ونلري.

۹.په سیاسي راپورنو کې باید دخلکو غږ ته ډېر پام وکړو چې دنظریاتو یو پراخ طیب منعکس شي.

هغه خلک چې تاسو یې څرګندونې په راپور کې خپروئ اوریدونکو ته یې ور وپېژنئ لکه،که تاسو ووایئ چې دکابل ښاریو تن اوسېدونکي وویل، نودا پېژندنه به مو دلوستونکو خوښه نه شي.ددې پرځای ورته ووایئ دېرش کلن زرغون چې په نوي ښار کې خوراکي توکو پلورنځي لري دوچو شیدو دزهرجن کیدو په اړه وویل چې:

دسرچینې دپېژندنې په اړه دا جمله مو تر لومړنۍ هغې روښانه ده اوداوریدونکو هم خوښیږي،ځکه دلته تاسو خپله خبري سرچینه اوریدونکو ته ترلومړۍ هغې په ښه توګه وروپیژندله.دخلکو دویناو تر راټولولو وروسته ددغو پوښتنو په رڼاکې ځان ډاډه کړئ:

ایا لوستونکي او اوریدونکي به په راپور کې د خلکو غږونه واوري؟

ایا نقل قول زړه راښکونکی او د موضوع مطابق دی؟

ایا لوستونکی د سرچینې حقیقي اواز او د خبرو طرز احساسوي؟

ایا په راپور کې مو هغه څه چې سرچینې ویلي دقیقاً لیکلي؟

ایا نقل قول راپورته تازه معلومات ورزیاتوي که تکراري دی؟

ایا په راپورکې د چارواکو په خبرو سربیره د عامو خلکو خبرې هم شته؟

ایا د بل خبرې داوږدې تشریح ده؟

ایا د بل خبرې یو جلا مثال ښي؟ که دیوې با تجربه سرچینې نظروړاندې کوي؟

ایا تاسو د هغه یا هغې وویل په شان جملو د بیا بیا راتلو مخنیوی کړي؟

ایادا روښانه ده چې دنقل قول ویونکی څوک دی؟

کیدای شي دمعلوماتو دراټولولو یا دخلکو دنظرونو داخیستلو پرمهال له داسې کسانو سره هم مخ شئ چې دمعلوماتو له ورکولو وروسته درته ووایي چې دده له خولې څخه اخیستي معلومات په راپور کې مه راوړئ اویا وایې چې نوم یې مه یادوئ، خو په اسانه،خو په اسانه ورسره دامه منئ.هو که په لومړي سر کې یې درته وویل چې دا معلومات شخصي دي او دخپرولو حق یې نه لرئ نو بیا پکار دی چې ویې نه کاروئ او یا یې که درته وویل چې معلومات درکوي، خو په دې شرط چې نوم به یې نه اخلئ او که مو ورسره همداسې ومنله، نو ترپایه په خپله کړې ژمنه ودریږئ.

(هڅه وکړئ دسرچینو په وړاندې تل خپل اعتبار وساتئ ، خو داهم مه هېروئ چې تاسې دخلکو په وړاندې هم لوی مسوولیت لرئ، تاسې کولای شئ سرچینې ته ژمنه واخلئ.څو تاسې دغه مالومات له بلې سرچینې نه واخلئ نه واخلئ او دوی یې تائید کړي او یا هم تاسې ته بله سرچینه دروښيي څو تاسې له هغو مالوماتو لاس راوړئ)

خبريالانو ته ښايي دپېښو دکره والي او خبري معلوماتو لپاره هغو ځايونو ته ورشي چيرې چې دپېښو په اړه دقيق معلومات په اسانه تر لاسه کولا شئ. عموماً دپوليسو ماموريتونه، روغتونونه، داور وژنې دفترونه، هوايي ډګرونه، دسرحدي،بحري او وچې يا هوايي ګمروکونو دفترونه، ولسي غونډې،لاريونونه،مطبوعاتي کنفرانسونه، ددولتي اونيمه دولتي يا نا دولتي ادارودعامه اړيکو څانګې، سفارتونه، ولسي او مشرانو جرګې، دموټرو تم ځايونه، ښوونيزاو روزنيز مرکزونه اودخلکو دګڼې ګوڼې نور ځايونه دمعلوماتو دترلاسه کولو ښې سرچينې دي،

ځکه د پوليسو په ماومريتونو کې دجنايي پېښو په اړه دلومړي لاس معلومات وي. په روغتونونو کې وژونکو او خپريدونکو ناروغيو، دجګړې، ترافيکي او نورو پېښو دمړو او ټپيانو شمېر معلومېږي.داور لګېدنې پېښې داوروژنې په دفترونو کې معلومېږي په هوايي ډګرونو کې دمهمو کسانو دتګ راتګ پته لګېږي.دګمرکاتو په دفترونو کې دبندو(ممنوع) توکو دوړلو او راوړلو درک کيږې.ددولتي، نيمه دولتي او نا دولتي دفترونو دعامه اړيکو له څانګو داړوندو دفترونو دکړنو اړوند خبرونه ترلاسه کيدلی شي.


که خبريال په دغو يادو شويو ځايونو کې بلد کسان، ملګري او دوستان ولري، نو ډير ګټورتماميږي،ځکه دهمدغو اړيکو له لارې نوموړی دځينو کسانو اوادارو اړوند داسې خبرونه تر لاسه کولی شي چې نورې خبري سرچينې يې نشي ترلاسه کولی.

**د خبر لیکنې سبکونه :**

که څه په مختلفو ځایونو او رسنیو کې د خبر لیکنې لپاره مختلف سبکونه کارول کیږي، خو هغه چې ډیر رواج او دود دي، په لاندې ډول دي:


**۱–هرم یا مثلث ډوله سبک :**

په دې سبک کې د خبر مهمې او زړه راښکونکې برخې د مثلث له راس څخه نیولې همداسې تر قاعدې پورې په ترتیب سره تنظمیږي. یانې د خبر تر ټولو مهمې برخې په لومړي قدم کې، وروسته مهمې برخې په دویم قدم او همداسې تر اخره پورې.




دې سبک ته ځکه هرم ډوله وایي چې که د خبر وروستۍ برخه حذف هم شي نو د هرم په شکل کې کوم تغیر نه راځي.

په ځینو اثارو کې بیا همدې سبک ته د سرچپه هرم یا مثلث نوم ورکوي، او هغه په دې دلیل چې د خبر د مهمو برخو ترتیب د هرم یا مثلث له قاعدې څخه د راس پر لور کمیږي. لکه په لاندې شکل کې :



**بیلګه:**

**په اروزګان کې چاودنې ۱۰ ملکي وګړي ووژل**

د اروزګان په دهراوود ولسوالۍ کې د ملکي وګړو پر موټر د ماین چاودنې لس عام وګړي وژلي دي.

د دهراوود ولسوال امین الله خالقي وویل، چې دا چاودنه د ولسوالۍ د ګیزک–شوراب ترمنځ سیمه کې شوې ده.

هغه زیاته کړه، چاودنه د ملکي وګړو پر یوه ټونس موټر شوې، چې له امله یې ۱۰ تنه وژل شوي او ۸ نور ژوبل دي.

ولسوال وایي، چې ټپیان د ترینکوټ ښار ملکي روغتون ته لیږدول شوي دي.

د اروزګان د قومي مشر ابراهیم اخوندزاده د چاودنې د تایید ترڅنګ وویل، چې یاد خلک له سعودي عربستان څخه د یوه راغلي حاجي سترې مشي ته روان وو، چې د ماین چاودنه پرې وشوه.

نوموړی وایي، چې په وژل شوو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي.

دا چې د هر سبک خوبیانې او نیمګړتیاوې لري، نو د هرم ډوله سبک ځانګړنې هم په ترتیب سره بیانوو:

**خوبیانې:**

- ✓ په هرم ډوله سبک کې د خبر مهمې برخې په لومړیو پراګرافونو کې ځاییږي، نو که مخاطبان د خبر د پاتې برخې لوستلو وخت ونلري په اسانۍ سره ترې تیریږي او اصل مطلب ترلاسه کولې شي.
- ✓ د خبریال لپاره د خبر تنظیم او لیکل هم اسان وي ځکه دا سبک یو ځانګړی چوکاټ لري او د دغه چوکاټ په نظر کې نیولو سره خبریال پر مخ ځي.
- ✓ په دې سبک کې کولای شو چې د خبر لومړی جمله په اسانۍ سره د خبرونو د لنډیز لپاره هم وکاروو.

✓ په اسانۍ سره د عنوان ټاکل هم د دې سبک یوه ښه ځانګړنه ده. ځکه د خبر لپاره په عنوان کې د پیښې اهمیت ډېر رول لري، او دا جمله د خبر په هم هغه لوموړي سر کې وي.

✓ همدارز په ورځپاڼو کې د صفحه بندۍ کار اسانوي، ځکه چې په ورځپاڼو کې خبرونه د خپل اهمیت له مخې ځای پر ځای کیږي، نو کله چې یو خبر په دې سبک لیکل شوی وي، او په ورځپاڼه کې ورته ډېر ځای نه وي پاتې نو په اسانۍ سره کولای شو چې د خبر وروستۍ جملې لرې کړو.

**نیمګړتیاوې:**

✓ په دې سبک کې خبریال د مطالبو د ځای پرځای کولو پر مهال دیوې برخې چې اهمیت ولري تیروځي او کیدای شي د مهمې برخې پر ځای لږ مهمه برخه راواخلي.

✓ مخاطب اصلي موضوع په اول یا دوهم پرګراف کې تر لاسه کوي نو د نور خبر لوستلو ته اړتیا نه پیدا کیږي او د خبریال له خواري څخه لوستونکی نه خبریږي.

✓ کوم څه چې په اول پرګراف کې ذکر شي د خبر په متن کې بیا تکراریږي.

✓ په دې سبک کې ممکن خبر په بشپړه ډول تشریح نه شي.

**۲- تاریخي سبک «کرونولوژي»:**

د خبر لیکنې په دې سبک کې پیښه یا خبري موضوع د پیل یا رامنځ ته کیدا له شیبې څخه شروع او په ترتیب سره تره پایه لیکل کیږي یانې دا مهمه نه وي چې د خبر مهمه برخه او زاویه کومه ده، ممکن د خبر مهمه برخه په پای او کم ارزښته برخې په لومړیو پراګرافونو کې راشي.

نن سبا د خبر لیکنې دا سبک لوستونکو او اوریدونکو ته ستړی کونکی وي، نو له همدې امله ده چې له دې سبک نه په ډېرو ځانګړو مواردو کې استفاده کیږي. لکه کله چې یو لړ پیچلي مسایل او پیښې په لنډ وخت کې رامنځ ته شوې وي نو کولای شو چې له همدې سبک نه په استفادې سره اوریدونکي د خبر درک کولو لپاره وهڅوو.

همدارازد ځینو علمي او تاریخي پیښنو د غبرګولو لپاره هم له دې سبک نه استفاده کیږي، ځکه په دې مواردو کې مخاطب تر ډیره د موضوع علمي اړخونو ته پام کوي نه د لیکنې سبک ته.

په تاریخي سبک کې پیښې هم هغه شان تنظمیږي چې رامنځته شوی وي یعنې د پیښیدو د ترتیب له مخې د یوې پیښې حقایق وړاندې کېږي د نویو ژورنالستانو لپاره د خبر لیکلو تاریخي شکل اسانه وي او په اسانۍ سره کولای شي خپل کار مخ ته یوسي .
په دې سبک کې خبریال یوه پیښه په تاریخ وار شکل لیکي او نه اړکیږي چې راغونډ کړی شوي مواد داهمیت په اساس تقیسم بندي کړي چې په دې سبک کې یوه پیښه بښه رو ښانه کیږي.
په دې سبک کې زیاتره وخت رسمي جلسې، سیاسي ، اقتصادي او اجتماعي خبرونه لیکل کیږي.

دا سبک هم ځان ته یو لړ مثبت اړخونه او نیمګړتیاوې لري.

**مثبت اړخونه :**

- ✓ –په دې سبک کې پیښنه او خبري موضوع په بشپړ ډول بیانیږي.
- ✓ –دا سبک د تازه کارو ژورنالستانو لپاره اسانه ګڼل کیږي، او همدا وجه ده چې اکثره نوي ژورنالستان همدې سبک ته مخه کوي. خو دوخت په تیریدو او تجربې ترلاسه کولو بیا نورو سبکونو په تیره هرم ډوله سبک ته مخه کوي.
- ✓ خبریال په دې سبک کې نفوذ نشي کولای.
- ✓ خبریال په اسانی سره کولای شي چې یوه موضوع په تاریخ وار شکل راوړي.

**نیمګړتیاوې :**

- ✓ –د هرم ډوله سبک په خلاف د لوستونکو ډیر وخت ضایع کوي.
- ✓ –دا چې دا سبک نسبتا اوږد او تفصیلي وي، نو ممکن لوستونکي د خبر پوره لوستلو ته زړه ښه نه کړي او خلک ورسره چندان علاقه هم نه لري.
- ✓ –د صفحه بندۍ پر مهال هم یو لړ ستونزې پیدا کوي.
- ✓ په الکترونیکي رسنیو کې زیات وخت نیسي او په چاپي رسنیو کې ډېر ځای نسي.

### ۳-تشریحي سبک :

په دې سبک کې د یوې پیښې هره برخه په ترتیب سره تشریح کیږي، او د هرې برخې اړوند وضاحت ورکول کیږي. د خبر لیکنې دا سبک تر ډیره د هغو موضوعاتو لپاره په کاریږي چې په اړه یې د نظر اختلاف ډیر وي.

د خبریالۍ د پوهانو له نظره د تشریحي سبک څخه عموماً د اوږدو خبرونو او یا هم رپورټونو د لیکلو لپاره استفاده کیږي.

تشریحي سبک هغه سبک ته ویل کېږي چې یوه موضوع په ښه ډول روښانه او خپلو مینه والو ته یې وړاندې کړي عموماً هغه موضوعات چې یو څه لانجمن وي په دې سبک کې لیکل کېږي تر څو موضوع روښانه کړي او د تفصیلي ګزارشونو د جوړولو په وخت کې دا سبک زیات کارول کیږي.

په دې سبک کې یوه واقعه برخه، برخه تنظمیږي او د هر برخه لپاره توضیحات اړین وي چې هر برخه ښه روښانه کړای شي.

په تشریحي سبک کې د خبر اساسي عناصرو څخه د «ولې» تر څنګ «څنګه» مطرح کیږي چې علت او عوامل یې د یوې پیښې تشریح کول او هغه خبرونه چې زیاتې توضیح او تشریح ته اړتیا لري په دې سبک کې روښانه کیږي.

### ۴-ډراماتیک سبک :

د خبر لیکنې له دې سبک نه تر ډیره د راډیویي او ټلویزوني خبرونو او همداراز په چاپي رسنیو کې د خبرونو د سرلیکونو لپاره استفاده کیږي. په ډراماتیک سبک کې د لیډ لومړنۍ جمله په ډراماتیکه یا حیرانونکې هنري بڼه لیکل کیږي.

په دې سبک کې د خبر لومړنۍ جمله کولای شي چې په مختلفو ډولونو د مخاطب توجه جلب کړي، یانې مخاطب باید حیران کړي او په یوه نه یو ډول یې د موضوع اړوند قناعت ورکړي.

د بیلګې په توګه که یوه ښځه په یو ځایي ډول څلور اولادونه وزیږوي، نو په ډراماتیک سبک کې کیدای شي ولیکو چې :

«دوه خویندیو او دوه وروڼو په یوه شپه نړۍ ته سترګې پرانستې».

بل مثال :

«د یوه ماشوم پښه د والدینو په غوښتنې سره نن سهار په عامې روغتیا روغتون کې پرې شوه.

دې ماشوم چې درې پښې لرلې، د ډاکټرانو د هدایت پر اساس والدین یې دا پریکړه وکړه....».

دا هم باید له یاده ونه باسو چې په ادبیاتو او د خبر لیکنې په ډراماتیک سبک کې د خیل یو له بله سره فرق کوي ځکه په خبر لیکنه کې هغه تخیل چې مبالغه او خیالي وي مجاز نه دی.

## د خبر ژبه

پوهان عالمان او سیاستمداران وائي چې د خلکو سره باید د خلکو په ژبه خبرې وشي مانا دا ده چې د بیسوادو او کلیوالو سره باید انسان په ساده او عامیانه ژبه خبرې وکړي د باسوادو سره باید د هغوی د درک فهم او سویې په انداز خبرې وشي ترڅو د خبرو څخه مطلب واخیستل شي او مجلس دلچسپي او خوږوالی پیدا کړي.

که مونږ د یو کلیوال کس سره په خبرو کې سخت لغتونه او د نورو ژبو کلمات وکاروو له دغه کس څخه به د خبرو لړۍ ورکه شي بیا به د خبرو په مفهوم او مانا نه پوهیږي دا خبرې ورته زړه تنګې او خسته کن تمامیږي ، مجلس په نیمائي کې پریږدي او ورڅخه روانیږي او که د مجلس څخه لاړ نشي بیا هم د خبرو څخه ګټه نشي اخیستی.

د رسنیو اصلي دنده له بیلابیلو سرچینو څخه پیغام اخیستونکو ته د خبر، نظر او بوختوونکو مطالبو رسول دي چې دا دنده د ژبې او کلام په مرسته په ډیرې اسانۍ سره ترسره کیدای شي ځکه څومره چې پیغام روڼ، ساده او مخامخ وي دومره زر د پوهیدو وړ ګرځي او هم هغه مانا ترې

اخيستل کيدای شي چې رسنۍ يې غواړي، خو د پيچلتيا او ساده والي ترمنځ تناسب له يوې وسيلې نه بلې ته توپير کوي.

په ځانګړي ډول راډيو ته سپارښتنه کيږي چې هميشه د ژبې تر ټولو ساده بڼه وکاروي ځکه چې راډيو پر شفاهي کلام ولاړه ده او چې خبره يو ځل له خولې راووځي بيا نه راګرځي.

بله دا چې راډيو د چاپي رسنيو پر خلاف، لوستي او نا لوستي يو ډول کاروي چې دا د راډيويي مطالبو د توليدوونکو دنده لا ګرانوي، د ليکنې کچه دې نه بايد دومره لوړه وي چې يوازې يو ټاکلی صنف پرې وپوهيږي او نه دومره ټيټه وي چې ځينو ته بې ارزښته وبريښي او له هغې څخه ټاکل شوی هدف ترلاسه نه کړي.

ډېر اوريدونکي راډيو ته د يوه بڼه ملګري په سترګه ګوري او د هر چا غږ چې اوري ځيره يې ځانته انځوروي. اوس نو که تاسې د ميکروفون تر شا د اوريدونکي دغه ليوالتيا درک نه کړئ او له هغه سره متقابله رابطه ټينګه نشئ کړای نو خپل اوريدونکي له لاسه ورکوئ. تاسې د ميکروفون تر شا هم کلمات هغسې تلفظ کوئ چې په عادي محاوره کې راځي خو يوازې دا اصل په تنهايي سره په راډيو کې ستاسې د بري ضمانت نه شي کولی يو شمير نور معيارونه هم بايد له دې سره ملګري شي تر څو باور د خلکو راجلب او په اسانۍ سره پيغام وررسوی.

کله چې د راډيو لپاره ليکلنه کوئ هر ټکی يې له هر پلوه وتلئ چې يوه مانا ولري هم هغه مانا ورکړي چې ستاسې موخه وي تر څو ستاسې او د وسيلې بيطرفي مو زيانمنه نه کړي.

راډيويي ليکنه بايد لنډه وي ځکه په راډيو کې هره ثانيه ارزښت لري او د هرې اضافي کلمې راوړل هم ستاسې قيمتي وخت ضايع کوي او هم اوريدونکي ته په زړه پورې نه پريوزي.

د رپوټ اغيز او ارزښت مو له ژبې جوتيږي، روښانه، کره او له پيچلتياوو پاکه خبري ژبه له تاسې سره مخاطب ته د پيغام په رسولو کې بنه مرسته کولای شي، ناسم تلفظ معناوې کږوي او تيروتنې رامنځ ته کوي، حساسيت پاروونکي مسالې احتياط غواړي، له قضاوتونو سره ملګري ټکي د رپوټ مسلکي ارزښت له پوښتنې سره مخامخ کوي.

په خبر کې د ډبرینې ځیرې پیکه کیدل په یو ډول له مخاطب سره د ویاند د دوستانه اړیکو پیل شو خو د دغه اړیکو اساس هم نه جوړوي. لاکن د خبر ویاند که غواړي چې د خپلې خبري ټولګې موخه په کارپوهانه او بې پرې توګه ترسره کړي دا چاره له ځانګړنو مهارتونو پرته شونې نده. هغه مهارتونه چې د خبر نوی عصر ورته سخته اړتیا لري او د خبري رسنیو ژوند یې د تحقق په منګولو کې دی.

**لومړی: پدې پوهیدل چې څرنګه اړیکې ټینګیدای شي؟ او په کومو مهارتونو سره کولې شو په ښه ډول اړیکه ټینګه کړو؟**

نن ورځ که څوک غواړي چې په راډیو او تلوېزیون کې د خلکو لپاره له خلکو سره خبرې وکړي باید د اړیکو او ارتباط د هنر تر ټولو لوړ فنونه وپیژني، ویې مني او ویې کاروي. نن ورځ به ناشونې وي چې رسنۍ د ارتباط او اړیکو علم ته له پام پرته بریالۍ شي. خو په اتباطي او د اړیکو په علم پوهیدل هم بسنه نه کوي باید دغه علوم په ځان کې وټوکول شي او د اړیکو په میل او کړلون بدل کړای شي.

ځینې وخت یو څوک یو څو وایي او هغه یې زده وي خو باور پرې نلري او مني یې نه. د اړیکو له ټینګښت سره باید میل او کړلون ځاني او د بدن له ددننه احساساتو څخه سرچینه واخلي.

ځینې کسان د اړیکو په علومو کې لوړې زده کړې لري خو بیا هم د دغه زده کړو په پیاده کولو کې پاتې راځي. له اړیکتیایي علومو سره آشنایي د دغه علم منل، درک او د هغه کارول دي. خو ځینې کسان بیا نور هم شته چې په عمل کې ډېر پیاوړي دي خو د ټولنیزو او رسندویي اړیکو په اړه هیڅ نه پوهیږي داسې هم باید نه وي. ویاند باید پدې برخه کې پوهه ولري، هم یې وکارولی شي او هم ورسره مینه ولري.

هغه ویاند چې د خبر د میز شاته ناست وي او کمرې ته ګوري خو خپل نظر له کمرې نشي تیرولی او د مخاطب زړه او ذهن ته یې نشي رسولای د اړیکو جوړولو چل نه ورځي. هغه بې اغیزې شخص دی او د ټولو هغو کسانو زحمتونه په اوبو لاهو کوي چې د خبر د جوړولو لپاره زیار باسي.

په ځینو رسنیو او یا ځینو خبري پروګرامونو کې خو د خبر ویاند د رسندویې اړیکو له لومړنیو لارو چارو سره هم بلد ندی، د بیلګې په توګه پدې نه پوهیږي کله چې له مخاطب سره سلام کوي باید نیغ په نیغه مخاطب ته وګوري او که پټ پټهونی کله خبرونو ته او کله مخاطب ته وګوري.

په کلامي اړیکو کې ښه پیل ډېره اغیزه لري، خو له احساساتي کیدو، هیجاني خبرو او خندېدلو څخه چې د ویاند شان او وقار کموي ډډه وشي.